USAID
FROM THE AMERICAN PEOPLE

COUNTERPART INTERNATIONAL
In partnership for results that last.

AFCAC
Afghans Coordination Against Corruption

د فساد په وړاندې د افغانانو همغږي
هماهنگی افغانها علیه فساد

# د ۱۰ سلنه مخابراتي خدمتونو محصول د راټولونې میکانیزم او شفافیت ارزونه




Internews
Local voices. Global change.

AGA KHAN FOUNDATION U.S.A.
An agency of the Aga Khan Development Network

AFCAC

Afghans Coordination Against Corruption

# د فساد په وړاندې د افغانانو همغږي

# هماهنگی افغانها علیه فساد

## د مننې پیغام

د دې ښځینې په بشپړولو کې ډېرو خلکو همکاري او مرسته کړې ده. د افکک رهبري د ښځینې له ډلې څخه، چې د دې ښځینې د پلي کولو او ترسره کولو په برخه کې یې فعاله ونډه درلوده؛ مننه او په ځانګړې ډول د ښاغلي عبدالحلیم اڅکزي له هلو ځلو څخه مننه کوي. راغب الله صدیقي د ښځینې ډلې لپاره یې د اداري مرستو په برخه کې زیاته هڅه کړې دي. افکک له ټولو هغو غړو څخه مننه کوي، چې خپل وخت یې د دې ښځینې د بشپړولو لپاره زموږ په واک کې را کړ، څو دا ښځینه بشپړه شي. همدارنګه له ښاغلي صداقت علي ضیا څخه د ښځینیزې ډلې د لارښوونې، هڅونې او مشرې له امله هم مننه او قدرداني کوو.

همدارنګه د معلوماتو د راټولونې له ډلې څخه مننډوی یو، چې په دې برخه کې یې زیاته هڅه کړې ده. د افکک د ښځینې ډله کې له ښکیلو غړیو هر یو احسان الله حکمت، محمد علي فیاض او له نورو همکارانو څخه مننه کوو.

افکک همدارنګه په افغانستان کې د کاونټرپارټ نړیوالې موسسې Counterpart International-Afghanistan څخه مننه کوي، چې له دې بنسټ او ګټه اخیستونکیو څخه یې خپلې مرستې نه دي سپمولي. په پای کې له هغو ټولو دولتي او نا دولتي ځواب ویونکیو څخه مننه کوو، چې د دې ښځینې د بشپړولو په موخه یې موږ سره مرکې کړې دي.

## د فساد په وړاندې د افغانانو همغږي - افکک

د دولتي او خصوصي سکتور په یو شمېر ادارو کې په پراخه کچه د فساد شتون او د روڼتیا نه شتون ته په کتو سره، د ۲۰۱۲ کال د فبروري په ۲۵ نیټه په کابل کې لوی کنفرانس جوړ شو، چې په کې یو شمیر مدني ټولنو پریکړه وکړه، څو د فساد پر وړاندې یو ایتلاف جوړ کړي. له دې کنفرانس وروسته د ۲۰۱۲ زیږدیز کال د مارچ میاشتې په ۲۹ نیټه دا ائتلاف په رسمي ډول د موجودیت اعلان وکړ. افکک د ۲۰۱۳ زیږدیز کال د نوامبر په میاشت کې د یوې خپلواکه، قانوني اداري په توګه د اقتصاد له وزارت سره ثبت شوه او رامنځته شوه. د افکک موخه دا ده، څو په افغانستان کې د فساد پر وړاندې مبارزه کې هر اړخیزې مرستې وکړي او مثبت بدلون رامنځته کړي. افکک هڅه کوي، څو خلک ملي بحث ته راوبولي، مدني بنسټونه پیاوړي کړي، څو د فساد پر وړاندې کمپاینونه وکړي او همدا راز د فساد په وړاندې مبارزه کې د فعالانو تر منځ همغږي زیاته شي، څو ملي پالیسۍ چې موخه یې د نوي افغانستان رامنځته کول دي، چې د اتباعو د هرې اړتیا پوره کول ورته لومړیتوب ولري؛ پیاوړي او پراخه کړي.

### ➢ لید لوری

د افکک لید لوری د پاک، ځواب ویونکي، ولسواکه او هوسا افغانستان درلودل دي، چې د ټولنیز عدالت او قانون پر بنسټ ولاړ وي.

### ➢ ماموریت

د نا دولتي فعالانو پیاوړی، ژمن او همغږه ائتلاف رامنځته کول دي، چې موخه یې په هېواد کې د حکومتوالی، ځواب ورکونې او روڼتیا لپاره عدالت غوښتنه وي او په ټولو دولتي او غیر دولتي ادارو کې خپل فعالیتونه ترسره کړي.

### ➢ ستراتیژیکې موخه

د افکک ستراتیژیکه موخه په افغانستان کې د مدني ټولنو ځواکمنتیا او د افغاني عدالت معیارونو او پروسیجرونو په پام کې نیولو سره د فساد پر وړاندې مبارزه ده.

# لړلیک


**د منني پیغام ........................................................................................................ I**

**د فساد په وړاندې د افغانانو همغږي - افکک ................................................................ II**

پېژندنه ............................................................................................................ ۱

میتودولوژي ........................................................................................................ ۱

مهمې موندنې ...................................................................................................... ۲

**لومړی څپرکی: د چاروکو او سوداګریزو ټولنو له نظره د مخابراتي خدمتونو محصول ................ ۳**

۱،۱ په افغانستان کې د مخابراتي سکټور شالید او اوسنی وضعیت ................................................ ۳

۱،۲ د عوایدو او د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولونې میکانیزم او روڼوالی ................................. ۵

۱،۳ د محصول را ټولولو په بهیر کې د ځانګړو ارګانونو دنده ......................................................... ۸

**دویم څپرکی: د د مخابراتي خدمتونو محصول په اړه د کارپوهانو او مدني ټولني نظرونه ................ ۹**

۲،۱ د کارپوهانو له انده د مخابراتي خدمتونو محصول ................................................................ ۹

۲،۲ د د مخابراتي خدمتونو محصول لنډ مقایسوي تحلیل او د هغه روڼتیا ...................................... ۱۱

۲،۳ پر خلکو او سوداګری د د مخابراتي خدمتونو محصول اغیزې .................................................. ۱۲

۲،٤ د د مخابراتي خدمتونو محصول لپاره د بدیل پلټنه ............................................................. ۱۳

**دریم څپرکی: عامه نظر، اغیزې او تمې ........................................................................ ۱٤**

۳،۱ د د مخابراتي خدمتونو محصول په اړه د خلکو درک ........................................................... ۱٤

۳،۳ شخصي اغیزې ........................................................................................................ ۱۸

۳،٤ له دولت څخه د خلکو غوښتنې او تمې ............................................................................ ۱۹

ستونزې ................................................................................................................. ۲۰

**وړاندیزونه ......................................................................................................... ۲۱**

پایله .................................................................................................................... ۲۲

## پېژندنه

دا یو ښکاره حقیقت دی، چې مخابراتي سیستم زموږ د ژوند یوه نه بیلیدونکې برخه ده، چې د نړۍ ملیونونه خلک له یو بل سره نښلوي. اوس مهال له ټکنالوژۍ پرته ژوند په نورمال ډول مخ ته نه شي تلای، ځکه چې ټکنالوژي زموږ د ورځني ژوند شاوخوا ټولې برخې تر خپلې اغیزې لاندې راوستلې دي. دا حقیقت په افغانستان کې هم لیدل کیږي چیرته چې ګرځنده ټیلفون او انټرنټ په تیرو ۱۵ کلونو کې د خلکو ژوند په لویه کچه بدل کړی. په ۲۰۰۲ کال کې د مخابراتي کمپنیو د فعالیتونو څخه مخکې، د افغانستان اړیکې له نړۍ څخه پرې شوې وې، که چیرې چا غوښتل، څو له هېواده بهر اړیکه ونیسي، نو اړ وو څو کوم ګاونډي هیواد ته سفر وکړي. دا په داسې حال کې ده، چې د نوي حکومت ، حامد کرزي، په راتګ سره د افغانستان ور نړۍ ته پرانیست او حکومت په ډیرو سکټورونو کې له پانګې اچونې څخه ملاتړ وکړ، چې په دې برخه کې د مخابراتو سکټور هم شاملیږي. په پایله کې د وخت په تېریدو سره عامه او خصوصي مخابراتي کمپنۍ زیاتې شوې او د هېواد ډیری سیمې یې د خپلو خدمتونو تر پوښښ لاندې راوستې. اوس مهال په افغانستان کې له ۲۲ – ۲۵ ملیونه خلک د مخابراتي خدمتونو څخه ګټه اخلي او ښایې په راتلونکې کې دغه شمیره لا هم زیات شي.

په ۲۰۱۵ کال کې له مخابراتي خدمتونو څخه د محصول را ټولول، د خلکو تر منځ د دې پروسې د میکانیزم او روڼوالي په اړه اندیښنې را وپارولې. دا په داسې حال کې ده چې ګڼ شمېر خلکو د مخابراتي خدمتونو محصول  له مالي اړخه له دولت سره مرسته ګڼله خو یو شمیر نورو بیا په دې اړه اندیښنه ښودله چې ګواکې د محصول په اخیستلو کې به د دولتي چارواکو له لوري اختلاس وشي. د عامه پوهاوي د نه شتون له کبله ډیرو خلکو په سیستم کې د ستونزو او تشو په اړه نه پوهیدل. د دې لپاره چې خلک د دې بهیر په اړه معلومات ترلاسه کړي د فساد په وړاندې د افغانانو همغږي اداره یا (AFCAC) د ۱۰ سلنه د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولونې میکانیزم او روڼوالي په اړه څیړنه پیل کړه. د دې څیړنې اصلي موخې دا ده: ۱) د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولونې میکانیزم/سیستم ارزول، ۲) د دې څرګندول چې د محصول د راټولونې په برخه کې څومره روڼوالی شته. دا څیړنه به د محصول ورکونې اغیزه پر خلکو او د هغوی پر سوداګرۍ هم څرګنده کړي.

د څیړنې ډول، د وخت کمښت او بروکراتیک پروسیجرونو ته په کتو سره، مرکې، ډله ییز بحثونه او سروې ګانې یوازې په کابل کې ترسره شوې. دا مرکې، سروې ګانې او ډله ییز بحثونه، له چارواکو، د اړوندې برخې له متخصصینو، د مخابراتي کمپنیو له استازو او نورو اړوندو ډلو سره تر سره شوې. شته خنډونو ته په کتو، د هر اړخیزو پوښتنپاڼو او سروې فورمونو کارول، او د شته معلوماتو څېړل؛ د څیړنې په لا غني کیدو کې مرسته کړې ده. دا څیړنیز راپور : لومړۍ څپرکی د سوداګرو او چارواکیو له نظره د مخابراتي خدمتونو محصول څیړي. همدارنګه دا څپرکی د اوسنۍ پروسې موثریت او روڼوالی او همدا راز په دې پروسه کې د ښکیلو سازمانونو فعالیتونه څیړي. دویم څپرکی دا موضوع د متخصصینو او د مدني ټولنو د استازو له نظره څیړي. سربېره پر دې، د مخابراتي خدمتونه محصول د نورو سکټورونو له مالیې سره پرتله کوي، د هغوی اغیزې پر خلکو او سوداګرۍ څرګندوي او د پیریدونکو مالیې ورکونې سیستم ته  بدیلونه وړاندی کوي. په پای کې، دریم څپرکی عامه پوهاوي، د خلکو نظر، د دې بهیر اغیزې پر خلکو او له دولت څخه د خلکو هیلو په هکله بحث کوي.

## میتودولوژي

دا څیړنه د د مخابراتي خدمتونو محصول په هکله د شته معلوماتو او د افکک څیړونکو له خوا د راټول شویو معلوماتو پر بنسټ بشپړه شوې ده. د معلوماتو د کتلو وروسته دا ځانګړې شوه، چې باید د د مخابراتي خدمتونو محصول ورکولو بهیر او د دې پروسې د روڼوالي په هکله د کره او هر اړخیزو معلوماتو راټولولو لپاره باید کیفیتي ( مرکې او ډله ییز بحثونه) او کمیتي (عامه نظر اخیستلو سروې) میتودونه وکارول شي. د دې موخې ترلاسه کولو لپاره د پرانیستو مرکو پوښتنپاڼه، ډله ییز بحثونو پوښتنپاڼه او د عامه نظر اخیستلو سروې ګانو فورمونه وکارول شول.

د با خبره خلکو او متخصصینو سره د مرکو د اهمیت لپاره، د ټولنیزو علومو هغه میتود څخه کار واخیستل شو، چې هغه موضوع څرګندوي چې په هکله یې کم شمیر خلک معلومات لري. او د دې میتود لپاره ځواب ورکوونکي او مرکه کوونکي له مخکې ځانګړې شوي وو. د یوې میاشت په اوږدو کې شاوخوا ۱۷ کسانو سره چې  مخابراتي سکټور کې یې دندې ترسره کړې وې او یا یې په دې هکله کره معلومات درلودل مرکې ترسره شوې دي. د افکک څیړونکو له هغوی سره د مرکې نیټه او ځای له مخکې ټاکلی وو. د بشپړه څیړنې لپاره او د څیړنې اخلاقو ته په کتو سره د هر کس مرکه د هغه له رضایت سره ثبت شوې ده. همدا راز ټول اړین رسمي پروسیجرونه په بشپړه توګه تر سره شول او د مرکې وړ کسانو ته له مخکې د دې څیړنې د موخو په اړه لنډ معلومات ورکړل شوي وو. همدارنګه د کابل ښار په بیلابیلو برخو کې ګروپي بحثونو تر سره کولو لپاره ساده او اسانه ستراټیژي په لاره اچول شوې وه. په هر ډله ییز بحث کې له ۶-۸ ګډونوال شتون درلود، چې بیلابیل شالیدونه یې درلودل. په ډله ییز بحثونو کې ګډون په داوطلبانه ډول تر سره شو او ګډونوالو ته هیڅ ډول مالي او مادي تشویق نه دي ورکړل شوي.

د دې لپاره چې د خلکو نظر د مخابراتي خدمتونو محصول په اړه وڅېړل شي، د سروې فورمونه، چې ډيرې پوښتنې يې لرلې چمتو او ځانګړې شويو خلکو ته د ډکولو لپاره وويشل شول.  دې ځانګړې شوي ډلو کې زده کوونکي، دولتي کارکوونکي، کوچني سوداګر او غيردولتي کارکوونکي شامل وو.

په دې مرکو او بحثونه کې جنسيتي انډول په کلکه په پام کې نيول شوی وو. همدارنګه د دې لپاره، چې بيلابيل نظرونه راټول شي، د ښار بيلابيلو سيمو کې فورمونه وويشل شول. د افکک روزل شوي سروې کوونکي د فورمونو ډکولو په وخت کې موجود وو، څو ګډونوالو ته د اړتيا په وخت مرسته او لارښوونه وکړي. په پای کې، په يوه مياشت کې ۸۰ ګډونوالو د سروې فورمونه ډک کړل او سروې کوونکو ته يې د شنې لپاره وسپارل.
د يادونې وړ ده، چې د معلوماتو ټولولو پر وخت، څېړونکي له يو شمير خنډونو سره مخ شول، چې د دې ډېر پر وخت ختميدلو باندې يې منفي اغيزه لرله. يو له دغو خنډونو څخه مرکې ته د دولتي چارواکو نه حاضريدل وو. د مرکې پر وخت ځينو خلکو د مرکې له ترسره کېدو څخه ډډه وکړه او يو شمېر نورو يې خپل همکاران د مرکې لپاره وړاندې کول. له دې سره سره د ښار په ځينو برخو کې د ښځينه داوطلبه مرکه کوونکيو موندل خورا ستونزمن وو. دا په دې معنې، چې سنتي عقيدې لا تراوسه  په مدني فعاليتونو کې د ښځو ګډون ته خنډ جوړيدای شي.

## مهمې موندنې

دا څېړنه يو شمير خنډونه په ګوته کوي، چې د محصول را ټولونې ميکانيزم، روڼوالی او موثريت تر منفي اغيزې لاندې راولي. ګډونوالو په خپلو مرکو او سروې ګانو کې د دغو خنډونو په هکله په تکراري ډول يادونې کړي دي. د دغه خنډونو شتون په راټولنکې کې په دولت باندې په ځانګړې ډول د په مالي سيستم د خلکو باور کموي. نو ځکه بايد دولت او مخابراتي کمپنۍ دغه خنډونه په کلکه تعقيب کړي او حل لارې يې په ګډه ومومي.  دې خنډونو حل کولو لپاره، اوږد مهاله پاليسيو ته اړتيا ده. اړوند چارواکي او پاليسي جوړونکي بايد په چټکو حل لارو او پروسيجرونو کې د کوچنيو بدلونونو راوستلو بسيا ونه کړي.

د دې ارزونې ځينې مهمې موندنې په لاندې ډول دي:

۱. **د ګټور سيستم نه شتون:** لکه څنګه چې په راټلونکي برخو کې تشريح کيږي، يو له مهمو موضوعاتو څخه چې د مخابراتي خدمتونو محصول راټولولپې  تر اغيزې لاندې راولي، د يو ګټور سيستم نه شتون دی. د نورو هيوادونو پر خلاف، د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو پريکړه په داسې وخت کې وشوه چې نه د محصول اخيستنې لپاره يو ګټور سيستم شتون درلود او نه هم په دې برخه کې متخصصين موجود وو.  په پايله کې دري کسيزه کميټه چې د مالي وزارت، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژی وزارت او آترا اداری استازې په کې ګډون درلود جوړه شوه، څو له دې ډېر څخه څارنه وکړي. دا په داسې حال کې چې دولت غوښتل چې د يادې کميټې پر ځای "سم وخت د معلوماتو تنظيمولو سيستم" يا RTDMS ځای پر ځای کړي، خو د دوو کلونو تيريدو سره دا پلان لا تر اوسه په حقيقت نه دی بدل شوی.

۲. **د اړينو صلاحيتونو نه شتون:** هغه کميټه چې اوس مهال د پېريدونکو څخه د مخابراتي خدمتونو محصول ټولوي، ځانګړی صلاحيت نه لري. دا په داسې حال کې ده چې د مخابراتي خدمتونو قانون په ښکاره توګه د ماليې وزارت او د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژی وزارت او اترا اداري ته  د قانون د پلې کولو دنده سپارلې، خو لا تر اوسه هم د کميټې غړو ته د هغوی اړوند صلاحيتونه نه دي ورکړل شوي. د څېړنې لپاره د مرکو پر وخت د يو وزارت استازی بل وزارت ته د اصلي صلاحيت دار يا د سيستم پلې کوونکي په توګه معرفي شوي وو.

۳. **په ټيټه کچه عامه پوهاوی:** د مخابراتي خدمتونو محصول او د دې سيستم د روڼوالي په هکله د عامو خلکو پوهه ډيره ټيټه ده. د دې ترڅنګ چې ډيرو خلکو د محصول اخيستل دولت ته ګټه بللې خو بيا يې د دې په هکله چې څومره پيسې جمع او په کوم ځای کې مصرفيږي، انديښنې ښودلې دي. د دې ډېر په هکله خلکو له مخکې خبرداری يا معلومات نه وو ورکړل شوي، يوازې له دې وروسته چې دا ډېر په فعاليت پيل وکړ خلک هم د محصول اخيستنې له موضوع څخه با خبره شول. ان تر دې چې وروسته له دوو کالو څخه هم چارواکو په دې هکله ټوکلي ګامونه نه دي اخيستې.

٤. **د مخابراتي کمپنيو پر راپورونو له اندازې زيات باور:** کميټه او حکومتي اداري پر هغو راپورونو له اندازې زيات باور کوي، چې د مخابراتي کمپنيو له خوا ورته چمتو کيږي. له هرې کمپنۍ (خدمت وړاندې کوونکي) څخه د محصول کچه د همدغو راپورونو پر بنسټ مشخص کيږي. دا په داسې حال کې ده، چې د يو ګټور او کره پروسې په نه شتون سره، کميټې لپاره ډيره ستونزمنه ده، چې د دغو محصول کچه په کره توګه تاييد کړي.

۵. **د کميټۍ د غړو ټيټ ظرفيت:** د څارنې د کميټې غړي، چې اوس مهال د محصول اخيستنې بهير پر مخ وړي، په مسلکي توګه نه دي روزل شوي. ډيری يې په مالي، سوداګری برخو کې تجربې لري. نو څکه دوی نه شي کولای دا سيستم په کټوره توګه وڅاري او بايد پر ځای يې " سم وخت د معلوماتو تنظيمولو سيستم" يا RTDMS ځای پر ځای شي.

## لومړۍ څپرکی: د چارواکو او سوداګريزو ټولنو له نظره د مخابراتي خدمتونو محصول

کومې نظريې، چې په دې فصل کې د مخابراتي خدمتونو محصول په هکله ذکر شوې دي، ډيری د چارواکو او مخابراتي کمپنيو د استازو نظرونه دي. په دې هکله څانګړې تخنيکي اصطلاحات د ګرافونو او شميرو سره کارول شوي دي. له دې سره سره په يو شمېر پاراګرافونو کې قانون او پاليسيو ته هم مراجعه شوې چې اوس مهال مخابراتي سکټور کنټرولوي. نو څکه دا شننه د دغو نظرونو مثبت او منفي اړخونه څيړي او ورته د حل لارې چارې وړاندې کوي. ممکن څينې معلومات نه وي ذکر شوي خو تر ډيره حده هڅه شوې چې ټول اړوند موضوعات ذکر شي.

### ۱,۱ په افغانستان کې د مخابراتي سکټور شاليد او اوسنی وضعيت

د افغانستان مخابرات يو له هغو سکټورونو څخه دی چې په ۱۵ کلونو کې يې ډير زيات پرمختګ کړی او هرې کمپنۍ شاوخوا ۳۰۰ – ۵۰۰ مليونه ډالر پانګونه کړې ده. له ۲۰۰۲ کال څخه را پدېخوا، چې د لومړي ځل لپاره د مخابراتي خدمتونو کمپنۍ (افغان بيسيم) په فعاليت پيل وکړ تر اوسه دا شان کمپنۍ زياتې شوي، چې اوس مهال ۵ خصوصي او يوه دولتي مخابراتي کمپنۍ شاوخوا ۲۲ مليونه پيريدونکو ته مخابراتي خدمتونه وړاندې کوي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د راپور له مخې اوس مهال د هيواد ۹۰ سلنه سيمې د مخابراتي خدمتونو پوښښ لاندې راغلي او ښايي د ۲۰۱۸ کال تر پای دغه سلنه ۹۵ ته پورته شي.[۱] له دې سره سره د انټرنټ خدمتونو وړاندې کوونکې کمپنۍ هم د هيواد په لويو ښارونو او ليرو پرتو سيمو کې فعاليت کوي او ۵۹ کمپنۍ به ډير ژر په فعاليت پيل وکړي چې د انټرنټي خدمتونو وړاندې کولو اجازه يې تر لاسه کړې. دا د باور وړ خبره ده، چې افغانستان د مخابراتي خدمتونو د پوښښ او د ګرځنده ټيلفون د استعمالوونکو له نظره په سيمه کې د ګاونډيو هيوادونو په پرتله مخکښ دی.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د استازي د معلوماتو له مخې څرګنديږي، چې دا وزارت غواړي مخابراتي خدمتونه د هيواد ليرې پرتو سيمو ته هم وغزوي او د دې موخې لپاره مخابراتي کمپنيو څخه ملاتړ کوي او سالم رقابت ته يې هڅوي.[۲] د معلوماتو تر لاسه کولو پاليسۍ د ډيزاين بشپړيدو څخه وروسته، هيله ده چې د فايبر آپټيک شبکې په برخه کې به خصوصي پانګه اچونکي پانګونه وکړي. له دې سره به د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت وکولای شي افغانستان له سويلي اسيا، منځنۍ اسيا او منځني ختيځ سره د اړيکو مهمه زيرمه وګرځوي او دولت ته د عوايدو ترلاسه کولو زمينه برابره کړي.[۳] د دې لپاره چې دا هيله په حقيقت بدله شي، د افغانستان او چين تر منځ يو قرارداد لاسليک شوی، چې د دې تړون پر بنسټ د افغانستان ملي فايبر آپټيک شبکه به د چين له فايبر آپټيک شبکې سره د بدخشان ولايت په واخان سيمه کې سره و نښلي. همدا راز له دې سره به د افغانستان فايبر آپټيک شبکه په راتلونکو ۵ کلونو کې پياوړې شي، او پاتې نهه ولايتونو به هم ډير ژر د ملی فايبر شبکې سره ونښلول شي.

د ډيرو ګواښونو سربېره چې د مخابراتي خدمتونو لړۍ ته يې خنډونه جوړ کړي، داسې ښکاري چې د افغانستان مخابراتي سکټور به په دوامداره توګه پرمختګ وکړي او نړيوال به دې ته وهڅوي، څو په دې برخه کې پانګونه وکړي. له دې سره به نه يوازې دولت ته ګټې ورسيږي بلکه سيمې به هم يو له بل سره ونښلول شي.

---

[۱] ډاکټر حسن، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت تخنيکي سلاکار لخوا ورکړل شوي معلومات، ۳ جولای ۲۰۱۷

[۲] عابد

[۳] جاويد همدرد " د مخابراتو او انټرنټ وضعيت په افغانستان کې (۲۰۰۶ – ۲۰۱۲) USAID. مارچ ۲۰۱۲ athttps://www.usaid.gov/sites/default/files/documents/۱۸۷۱/The%۲۰State%۲۰of%۲۰Telecoms%۲۰and%۲۰Internet%۲۰%۲۰in%۲۰Afghanistan%۲۰(۲۰۰۶-۲۰۱۲)%۲۰Low-Res.pdf ۱۰ مخ

**د سوداګرۍ له پرمختګ، پانګه اچونې او ټولنیزې هوساینې سره د مخابراتي کمپنیو مهمې مرستې**

- مخابراتی کمپنیو د افغانستان په مخابراتي سکټور کې ډېره پانګونه کړې ده. د ځینو راپوروونو له مخې، هرې کمپنۍ په افغانستان کې شاوخوا ۳۰۰ ـ ۵۰۰ میلیونه ډالر پانګونه کړې ده.
- د مخابراتي کمپنیو خدمتونه د هیواد زوړ سوداګریز سیستم نوي سیستم ته بدل کړی، چې اوس د نړۍ له مارکیټونو سره نښلول شوی او فعالیتونه یې پر ټکنالوژۍ ولاړ دي.
- مخابراتي سکټور یو له هغه سکټورونو څخه دی، چې دولت ته ډېره مالیه ورکوي. د دې سکټور ګټې پ دوامداره توګه مخ په زیاتېدو دي، چې له دې سره د هیواد ملی بودیجه زیاتېږي او له بهرنیو مرستو څخه د دولت اړتیا ورځ تر بلې کمېږي.
- د مخابراتي خدمتونو ډېری کمپنۍ د ټولنیزې هوساینې او د بې وزلۍ په له منځه وړلو کې هم مرسته کوي. د دې سکټور او بنسټ له خوا یو شمیر دارالایتامونه ، ښوونځی، روغتیایي مرکزونه، حرفوي زدکړو مرکزونه او داسې نور ټول ګټې مرکزونه جوړ شوي دي.

د دې څېړنې په بهیر کې یو له هغو پوښتنو، چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت، اترا اداري، مالیې وزارت او دولتي او غیر دولتي مخابراتي کمپنیو له استازو څخه وپوښتل شوې د ګرځنده تیلفونونو او سیم لرونکیو تلیفونونو او د مخابراتي خدمتونو استعمالونکو په اړه وو. د معلوماتو پر بنسټ، شاوخوا ۲۲-۲۵ ملیونه پیریدونکي اوس مهال د مخابراتي خدمتونو څخه استفاده کوي، چې ګرځنده تیلفون، سیم لرونکي تیلیفون، 3G، 4G او نور خدمتونه په دې ګروپ کې شامیلیږي.[٤] دا په داسې حال کې ده، چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت – آترا اداري او د مالیې وزارت دغو ارقامو په اړه هیڅ کره معلومات نه درلودل. حال دا چې په کال ۲۰۱۵ کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت په خپل وېپانه کې د پیریدونکو شمیر ۲۴۱۵۴۶۰۸ تنه ښودلی وو، چې له دې شمیره څخه ۱۸۷۹۱۲۳۷ تنه یې فعاله وو.[٥]

د کره ارقامو وړاندې کولو پر ځای، دوی د افکک مرکه کوونکو څخه غوښتل تر څو د هرې کمپنۍ څخه د پیریدونکو شمیر په اړه معلومات واخلې. دا په داسې حال کې ده، چې د ځینو کمپنیو استازې بیا وایې چې هغوی په منظم ډول د خپلو پیریدونکو شمیر مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت – اترا اداري په واک کې ورکوي.[٦] سربېره پر دې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت – اترا اداري هیڅ دلیل د معلوماتو نه لرلو په اړه د منلو وړ نه دی. د اتصالاتو مخابراتي کمپنۍ د استازې لخوا د معلومات د نه شتون سبب دوه لاندې لاملونه وړاندې شوي دي.[٧]

١. د فعاله پیریدونکو وضعیت کې بدلون، چې په میاشتنی او اونیز ډول د دغو پیریدونکو شمیر زیاتیږي او کمیږي.
٢. د پیریدونکو لخوا د شبکو بدلیدل. چې د شبکې دا بدلون د نرخ، د خدمتونو کیفیت، د پوښښ سیمې او نورو فکټورونو په نظر کې نیولو سره منځ ته راځي.

د مخابراتي کمپنیو استازو د خپلو پیریدونکو په اړه لاندې معلومات او ارقام شریک کړي دي.

---

[٤] د ښاغلي ذکریا هاشمي، د افغان بیسیم کمپنۍ تخنیکي سلاکار سره چې د جولای ۲۶ ، ۲۰۱۷ کال کې ترسره شوه
[٥] د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی پالیسي او قانونhttp://mcit.gov.af/en/page/public-documents/٥٦٢٢ <
[٦] د ښاغلي محمد قاهر وردک، د روشن کمپنۍ د دولتي چارو مدیر سره مرکه چې د ۱۳ جون ۲۰۱۷ ترسره شوه
[٧] له ښاغلي سید خالد عزیز، د اتصالاتو کمپنۍ حقوقي مدیر سره مرکه، چې د جون ۱۳، ۲۰۱۷ کې تر سره شوه




کله چې له مرکه کوونکو څخه د مخابراتي خدمتونو د مالیې په اړه وپوښتل شول، هغوی دوه قانونه یاد کړل، چې اوس مهال مخابراتي سکټور د هغه پر بنسټ حکومت ته مالیه ورکوي او پر دې سکټور مالیه کنټرولوي: ۱) پر عایداتو د مالیاتو قانون (۲۰۱۰) او ۲) پر مخابراتي خدمتونو د محصول (چې د ۲۰۱۵ کال څخه راپدیخوا تعیین شوې ده). یو شمېر نور بیا د مخابراتي خدمتونو د کنټرول قانون (۲۰۱۶) او د کار قانون هم ذکر کاوه، چې د مخابراتي سکټور څخه څارنه کوي او پرې پلي کیږي. دا قانونونه د هغه مالیو اندازه څانګړې کوي، چې د مخابراتي کمپنی یې باید دولت ته ورکړي لکه د BRT فیس، د مخابراتو براختیایي صندوق یا TDF فیس، د سپورمکۍ فیس، د جواز د تمدیدولو فیس، فریکونسي چینل فیس، معاشاتو مالیه او نور.

د مالیې وزارت استازي د راپور له مخې، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او آترا دنده ده، څو د هرې کمپنۍ ۱۰ سلنه د مخابراتي خدمتونو محصول اندازه وټاکي.[۸] دا په داسې حال کې ده، چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او آترا اداره د کمپنیو د ۱۰ سلنه محصول اندازه کول خپله دنده نه بوولي.[۹] اصلي ستونزه د یوه ګټور سیستم نه شتون او له بلې خوا د ګمارل شویو ارګانونو ( آترا، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او د مالیې وزارت) د مخابراتي کمپنیو په راپورونو له اندازې زیات باور دی. دا په دې معنی ده چې تر څو RTDMS سیستم ځای پر ځای نه شي دا ستونزې به همداشان دوام ولري.

## ۱،۲ د عوایدو او د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو میکانیزم او روڼوالی

دمخابراتو سکټور یو له هغه سکټورونو دی، چې دولت لپاره ډېر ګټور ثابت شوی. ډیری مرکه کوونکو په دې اړه معلومات نه درلودل، چې د د مخابراتي خدمتونو محصول له پیل راهیسې، دولت څومره ۱۰ سلنه محصول را ټول کړی. د دوی له نظره وخت تر بله د مخابراتي خدمتونو پیریدونکو د لګښتونو ته په کتو سره د ټول شویو محصول اندازه کمیږي او زیاتیږي.

د د مخابراتي خدمتونو محصول قانون له پلي کیدو وروسته د مالیې وزارت لخوا د ګټو(عایداتو) په اندازه کې کموالی ثبت شوی دی.دا خبره د مخابراتي کمپنیو د استازو له خوا هم تایید شوې ده او په خپلو مرکو کې یې ویلې چې په ځینو برخو کې یې عایدات کم شوي. دوی د خپلو عایداتو پر بنسټ دولت ته مالیه ورکوي، چې اوس مهال د پخوا په پرتله دولت ته کمه مالیه ورکوي، چې دا موضوع د عایداتو کموالی په ډاګه کوي. یو شمېر نورو مرکه کوونکو بیا په عایداتو کې کموالی د ځینو نورو لاملونو اغیز بولي. د وصل ټیلکام کمپنۍ د استازي، ښاغلي شبیر احمد په وینا له افغانستان نه د نړیوالو څواکونو وتل په

---

[۸] د مالیې وزارت د عوایدو دیپارټمنت لخوا ورکړل شوي تحریري معلومات
[۹] له ښاغلي ناظر حسین ریحاني، د اټرا استازي او د نظارت او څارنې غړي، سره مرکه چې د جولای ۲ ۲۰۱۷

هیواد کې د وزګارۍ او د شخصي عایداتو د کمېدو لامل شوی. ^۱۰ په پایله کې خلک نه غواړي خپلې ډېرې پیسې پر د مخابراتي خدمتونو محصولاتو لکه ټلیفوني اړیکې او انټرنیټ ولګوي. د عایداتو کموالي بل سبب، سیاسی کمزوري او د سوداګریز وضعیت ورځ تر بلې خرابېدل هم کېدلای شي.




د مخابراتي کمپنیو ډېری استازي بیا په دې باور دي، چې د مخابراتي خدمتونو محصول د دوي پر عملیاتو او پلانونو بده اغیز نه ده کړې. د دوي په وینا محصول د پېرېدونکو څخه اخیستل کېږي او د دولت خزانې ته اضافه کېږي نو څکه دوي نه څه لاسته راوړي او نه هم څه له لاسه ورکوي. دا په داسې حال کې ده چې دوی دا مني چې د محصول پیل راهیسې د پېرودونکیو لخوا مخابراتي خدمتونو کارول کم شوي او دا لړۍ یې لږ څه اغېزمنه کړې ده. د مغوی په باور، چې اوسمهال د دوی عواید لږ څه کم شوي او همدارنګه دوی د پخوا په پرتله لږه مالیه حکومت ته ورکوي. د مخابراتي کمپنیو د استازو د نظر پر بنسټ، د مالیې اخیستنې بهیر څکه د دوی عملیات سوکه کړي چې اوس پېرېدونکي د دې له کبله چې د مخابراتي خدمتونه په بدل کې ۱۰ سلنه محصول ورکوي، خپل لګښت یا له دې خدمتونه څخه استفاده کمه کړې ده.

---

^۱۰ له شبیر احمد، د وصل ټیلکام له مالي امر سره مرکه چې د جولای ۲۴ و ۲۰۱۷ کې ترسره شوه

**میکانیزم**

د مرکه کوونکو د نظرونو له مخې، اوس مهال د محصول اخیستنې ډېر درې پړاوه لري، چې د څارنې درې ګروپې کمیټې له لورې پر مخ ځي. د دې سیستم او د کمیټې د غړو دندې په لاندې چارټ کې بیان شوي دي.

### لومړی پړاو: د راپورونو ترلاسه کول

مخابراتي کمپنۍ د بل ورکوني برېښنايي سیستم یا CBOS څخه کار اخلي، چې په مرسته یې هر پیرېدونکي ته وړاندې شوې خدمتونه او د هغې لګښت څرګندوي. د هرې میاشتې په پای کې یادې کمپنۍ د خپل عوایدو، لس سلنه محصول او نورو معلوماتو راپور اترا اداري ته ورکوي.

### دوهم پړاو:د محصول مشخص کول

اترا یاد راپور د کمیسیون دوو نورو غړوو (د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او مالیې وزارت) ته ورکوي ترڅو د هرې کمپنۍ د راپور له مخې د نومړې کمپنۍ د محصول اندازه مشخصه کړي. وروسته له دې چې د محصول اندازه مشخصه شوه، د مخابراتو وزارت مخابراتي کمپنۍ ته تعرفه ورکوي، څو مشخصې شوې پیسې د حکومت په حساب کې زیاتې کړي.

### دریم پړاو: د تعرفې صدور او څارل

د کمیسیون غړي په ځانګړې توګه د مالیې وزارت استازي دا څاري، چې مخابراتي کمپنۍ په خپل وخت سره محصول تحویل کړی. سربېره پر دې د کمیسیون غړي په ځانګړې توګه د اترا اداري استازې د کمپنیو راپورونه د بیلېنګ سیستم سره پرتله کوي ترڅو توپیرونه یې پیدا کړي.

دا په داسې حال کې ده، چې دا ډېر څرګنده چې وویل شوو، په ډېرې ساده‌ګۍ او عادي حالت پر مخ نه ځي. له یو خوا د کمیسیون غړي په دې اړه نیوکه لري، چې مخابراتي کمپنۍ یې نه پرېږدي، څو پر ټاکلي وخت له هغوی نه پلټنه وکړي. د مخابراتي کمپنیو کارکوونکي د کمیسیون غړو ته وایي، که چېرې دوی د هغوی مخابراتي سیستم سره پاملرنه ونه کړي د هغوی ټول عملیات به ناسم شي او ریکارډونه به یې له منځه ولاړ شي. که چېرې دا ستونزه حقیقت ولري، د اندېښنې وړ خبره ده، ځکه چې د کمیسیون غړو له خوا غیر مسلکي پلټنه کولای شي ریکارډونه له منځه یوسي او فساد ته لاره هواره کړي. څو له بلې خوا بیا د کمپنیو استازي وايي چې د هغوی سیستمونه ډېر په عالي معیار برابر دي او د له منځه وړلو چانس یې نه شته. حقیقت که هر څه وي، اوسمهال دواړو خواوو د محصول را ټولولو اوسنی میکانیزم منلی او تر ډېره بریده ور څخه رضایت لري.

**روڼتیا**

د د مخابراتي خدمتونو محصول د را ټولولو په ډېرې یوه ستونزه د روڼتیا نه شتون دی. ډېری مرکه کوونکیو په خپلو مرکو کې ویلی دی، چې د دولت ډېرې ارګانونو په فساد اخته دي نو ځکه دا امکان شته، چې د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو په ډېرې هم اختلاس وشي. دا په داسې حال کې ده، چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت استازی داسې ادعاوې ردوي او په دې باور دی، چې دولت په دې هکله یو کټور میکانیزم جوړ کړی، څو له روڼتیا

ځخه ډاډ ترلاسه شي.[۱۱] د نوموړي استازي په وینا، اوس مهال د دریو ارګانونو څخه د څارنې کمیټه جوړه شوې، چې یوولس غړي لري، څو د مخابراتي سکټور څخه اخستل شوی محصول پلټنه وکړي. تر اوسه یادې کمیټې په دې اړه کوم منفي راپور نه دی ترلاسه کړی. د دولتي او غیر دولتي مخابراتي کمپنیو استازو هم د یادې پروسې د میکانیزم له روښتیا څخه ډاډ څرګند کړی. دا په داسې حال کې ده چې د نظارت کمیټه د هغو راپورونو پر بنسټ عمل کوي، چې د مخابراتي کمپنیو څخه یې تر لاسه کوي. او د یادې کمیټې غړي دومره ظرفیت او وړتیا نه لري چې په خپلواکه توګه د نوموړو راپورونو سموالی تایید کړي

**په افغانستان او سیمه کې د مخابراتي خدمتونو د محصول کچه**

د مخابراتي خدمتونو محصول له یو هیواد نه تر بل هېواده توپیر لري، چې دا توپیر د هیوادونو سوداګریزې پرمختیا او پالیسیو پر بنسټ ټاکل کیږي. د محصول اخیستنه په مخابراتي سکټور کې د بدلون راوستلو یا د پانګونې تشویق او نه تشویقولو لپاره په لاره اچول کیږي. لاندې چارټ د افغانستان په ګډون په سویلې اسیا کې د د مخابراتي خدمتونو محصول اندازه په نښه کوي.

| هیواد | د یو کس ملی ناخالصه عاید (ډالر) | د مخابراتي خدمتونو محصول | ملاحظات |
|---|---|---|---|
| پاکستان | ۱۱۸۱ | ۳۵٪ | لوړ |
| افغانستان | ۵۹۶ | ۱۰٪ | مناسب |
| هندوستان | ۱۸۶۱ | ۱۸٪ | ښکته |
| ایران | ۵۷۵۷ | ۹٪ | ډیره ښکته |

## ۱،۳ د محصول را ټولولو په بهیر کې د څانګړو ارګانونو دنده

دولت د مخابراتي خدمتونو پیریدونکو څخه د محصول اخیستنې پروسې د نظارت لپاره یوه کمیته جوړه کړې، چې د دریو ارګانونو استازي په کې غړیتوب لري. د دې کمیټې غړي د اترا اداري، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او د مالیې وزارت کارکوونکي دي. د هر ارکان دنده په لنډه توګه په لاندې ډول تشریح کیږي.

**اترا**

اترا هغه ټکنالوژیکي مشورتي ارګان دی، چې په افغانستان کې د مخابراتي کمپنیو عملیات څارې او کنټرولوي. یاد ارګان د مخابراتي کمپنیو څخه د هغوی میاشتني راپورونه تر لاسه کوي. همدارنګه د دې ارګان غړي باید هره میاشت له مخابراتي کمپنیو څخه لیدنه وکړي او د هغوی کړنې او فعالیتونه وڅیړي همداراز دا ارګان باید د کمپنیو څخه ترلاسه شویو راپورونو د سموالي په اړه کره معلومات ترلاسه کړي. په ریکارډونو او راپورونو کې د ناسموالي شتون او یا د خدمتونو په برابرولو کې د پاتې راتلو په صورت کې اترا دا صلاحیت لري چې په یادو کمپنیو جریمه وضعه کړي.[۱۲]

داسې ښکاري، چې د یو شمېر لاملونو( د مسلکي کارکوونکي نه شتون) له کبله، اترا په دې نه ده توانیدلې، چې خپله دنده په سمه توګه ترسره کړي. د مرکه کوونکو د ځوابونو له مخې، د اترا غړو د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولونې له پیل راهیسې په دې اړه (۲۳ اکتوبر ۲۰۱۵) د افغان ټیلکام کمپنی څخه دریې ځله او نور کمپنیو څخه دوه دوه ځله لیدنه کړې ده.[۱۳] اترا ډیری وخت د کمپنیو څخه د راپورونو په ترلاسه کولو بسیا کوي او په کلکه عمل نه کوي. نو ځکه دا موضوع باید په جدي توګه دولت په نظر کې ونیسي ځکه چې په څیړنیزو برخو کې ستونزې کولای شي، چې له کمپنیو څخه د د مخابراتي خدمتونو محصول او د مالیې اخیستلو بهیر او نور معلومات ستونزمن کړي.

د محصول را ټولولو اړوند، اترا د را ټول شوي محصول د اندازې مشخصولو او همداراز د دې بهیر د کنټرولولو دنده پر غاړه لري. آترا د کمیټې دوو نورو غړو ته تایید شوي راپورونه وړاندې کوي چې په مرسته یې کمیته د هرې کمپنی د مالیې اندازه ټاکي.

[۱۱]د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی د تخنیکي استازي له لوري ورکړل شوي معلومات
[۱۲]له ناظر حسین سره مرکه
[۱۳]له

**د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت**

د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو اړوند د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت دنده نظر دوو نورو غړو ته په ښکاره توګه نه ده څرګنده شوې. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت په څارنېزه کمیته کې څلور استازي لري او هغوی ډېری وخت د محصول ټاکلو بهیر څاري او د دې د روښنوالي راپور خپل اړوند وزارت ته ورکوي. له دې سره سره د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت په دې څان ډاډمن کوي، چې د مخابراتي خدمتونو محصول د ورکړې قانون د هیواد د نورو قانونونو ترڅنګ چې مخابراتي سکټور کنټرولوي، پلي کیږي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د چارواکو څخه د ډېرو غوښتنو وروسته، یوازې په دې وتوانیدلو، چې پورته لنډ معلومات د هغوی د دندې په اړه ترلاسه کړو.

**د مالیې وزارت**

د اترا په شان د مالیې وزارت هم د څارنې په هغه کمیته کې استازي لري، چې د دریو ارګانونو لخوا جوړه شوې او د محصول د ټاکلو او راټولونې بهیر کې په فعاله توګه ونډه لري. کله چې د کمیټې لخوا د هرې کمپنۍ د مالیې اندازه وټاکل شي، د مالیې وزارت یادو کمپنیو ته تعرفه لیږي چې باید د پنځه ورځو په موده کې تحویل شي. وروسته له دې کمپنۍ تعرفې تحویلوي، د مالیې وزارت همدارنګه د څارنې کمیټې دوو نورو غړیو ارګانونو ( اترا او مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت) ته هم خبر ورکوي.

که چیرې کمپنۍ په خپل وخت سره ټاکل شوې تعرفه تحویل نکړي، باید د ټولټال مالیې ۰،۰۱ سلنه اضافي مالیه د جریمې په توګه تحویل کړي. دا په داسې حال کې ده، چې د یو شمېر مخابراتي کمپنیو استازي وایي، چې هغوی دا قانون په پام کې نه نیسي او پرته له اضافي مالیې ورکولو خپله ټاکل شوې مالیه ناوخته پرې کوي.

د څارنې دا کمیته، چې درې ارګانونه په کې استازي لري؛ به ترهغې خپل فعالیت ته دوام ورکوي ترڅو چې RTDMS سیستم په کار پیل وکړي او له هغې وروسته به دا سیستم هم د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او اترا له مرکزي سیستم سره ونښلول شي. د مخابراتي خدمتونو د محصول ورکونې قانون په خلورمه ماده کې راغلي، چې د دې قانون پلي کیدو لپاره د ګمارل شویو ارګانونو دندې او صلاحیتونه به په جلا قانون کې چې جوړ شوی او وروسته به تصویب هم شي، تشریح کیږي.

## دویم څپرکی: د مخابراتي خدمتونو محصول په اړه د کارپوهانو او مدني ټولني نظرونه

په دې څپرکي کې، د مخابراتي خدمتونو محصول، د مرکه کوونکیو لخوا د خپلواک او مسلکي کارپوهانو په توګه ارزول شوی. هغه ځوابونه چې مرکه کوونکو یو شمېر پوښتنو ته ویلي، ډېري یې په ماهیت کې منفی اوانتقادي بڼه لري. سربیره پر دې، د مرکه کوونکو ځوابونه عموماً د هغوی د شخصي تجربو او یا هم د هغوی د پوهې پر بنسټ، چې د قانون، مالیاتو، مخابراتو او نورو په برخه کې لري، دي. نو، د ادعا لپاره هیڅ ډول ګرافونه او ارقام ندي داخل شوي. تحلیل او معلومات، چې په دې څپرکي کې راغلی د یو ماخذ په توګه ترې هغه پالیسی جوړونکي، چې د مخابراتو د مالیاتي سمون د پلي کولو په برخه کې کار کوي ګټه پورته کولای شي.

### ۲،۱ د کارپوهانو له انده د مخابراتي خدمتونو محصول

په ټولیزه توګه د پوهانو، پارلمان غړو او د غیر دولتي ادارو د استازو درک د د مخابراتي خدمتونو محصول د وضع کولو په برخه کې منفی او انتقادي و.

په داسې حال کې چې ټول د حکومت له لوري د مالیاتو د وضع کولو په برخه کې راضي دي، په څان د اتکا او د خارجي مرستو څخه د خلاصون په موخه دا تر ټولو اغیزمن میتود بولي، دوی د یو شفاف او اغیزمن سیستم له نه شتون څخه نیوکه کوله. د افغانستان د روڼتیا د څار د اداري د وینا پر بنسټ، حکومت د یو کلاسیک مالیاتي سیستم په استعمالولو نه شي کولای له مخابراتي کمپنیو مالیه او محصول راټول کړي.[14] هغه په دې باور دی، چې د یو جلا او عصري سیستم لکه پر وخت د معلوماتو د تنظیمولو سیستم ( Real-Time Data Management System (RTDMS)) ته چې په ګاونډیو هیوادونو او سیمه کې په پراخه توګه استعمالیږي اړتیا ده، چې رامنځته شي، څو د مالیاتو د ورکړې روڼتیا تضمین

[14] سید اکرم افضلی، د روڼتیا د څار اداري اجرائیه رئیس سره مرکه، ۱۷ جون ۲۰۱۷

کړي او د مالیاتو له پېتولو څخه د مخابراتي کمپنیو لاسونه را لنډ کړي. ورته نظرونه د اداري فساد ضد څارنې او ارزونې کمېټې استازي هم وړاندي کړي، هغه په دې ډېر ټینګار وکړ چې باید (RTDMS) رامنځته او نصب شي، څو د عوایدو د فساد او اختلاس څخه مخنیوی وشي.[15]

بله ستره اندېښنه، چې د مرکه کوونکیو له لوري راپورته شوه د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو قانونیت او د هغه منل وو. حکومت هوډ کړی، چې په لومړي ګام کې د مخابراتي کمپنیو له پېرودونکیو څخه د ولسمشر د فرمان پر بنسټ محصول واخلي. ځواب ورکوونکي په دې باور دي، چې دا پریکړه یو اړخیزه او په بیړه کې نیول شوې. ښاغلی موسی خان نصرت، چې د ولسي جرګې غړی دی، هغه هم ورته نظر لري. د ښاغلي نصرت په وینا، د افغانستان اساسي قانون ولسمشر په مالي چارو کې د فرمانونو صادرولو څخه منع کوي (؟)[16] نو نوموړی ځکه په دې باور دی، چې د پارلمان ډېرو غړو د ولسمشر فرمان په لومړي قدم کې رد کړ او دوی یوازې هغه وخت تصویب کړ، چې په مسوده کې بدلونونه راوستل شول او د قانون بڼه یې خپله کړه.

ښاغلي سلطاني، مشهوره مالي کارپوه ده، هغه د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو د پریکړې د مشروعیت پوښتنه کوي.[17] د هغه په اند، ولسمشر دا صلاحیت نلري، چې په مالي موضوعاتو کې فرمان صادر کړي او لکه څنګه چې په وروستنی قانون کې راغلي، د دې فرمان پر بنسټ د مقننه فرمان په ځای تر ډېره سیاسي آله ده. خو هغه له دې مخکې اشاره ونکړه چې ولسمشر څه ډول له ده څخه په سیاسي موخو کې استفاده کوي.

په عین حال کې، د نورو په منځ کې، دوه مرکه کوونکیو وړاندیز وکړ، چې مالیات باید پر مخابراتي کمپنیو وضع شي نه پر پېرودونکیو. عبدالله احمدي د ځایي مدني ټولنې د سازمان استازی په دې باور دی، چې اوسنی د مخابراتي خدمتونو محصول د یو عادي وګړي لپاره ډېر زیات دي، نو دا باید له مخابراتي کمپنیو څخه واخیستل شي.[18] د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استاد سیف الدین سیهون هم ورته نظر لري، هغه وایي د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو شفاف سیستم نه شتون به خلک دېته اړ کړي، څو خپل مخابراتي لګښتونه کم کړي، چې په پایله کې به د مخابراتي کمپنیو په عوایدو کې هم کموالی راشي.[19] نو یو غوره بدیل به په مخابراتي کمپنیو د مالیاتو وضع کول وي، چې خلک به دېته اړ نه شي، څو خپل مخابراتي لګښتونه راکم کړي او دا به د مخابراتي کمپنیو په عوایدو هم اغیز ونکړي.

د افغانستان د آزادو رسنیو د ملاتړ اداري استازی، چې د ځایي رسنیو د څار یو سازمان دی، په دې باور دی، چې له پېرودونکیو څخه په مستقیم ډول د محصول اخیستل د پېرودونکیو د ویناوو په آزادۍ او معلوماتو ته په لاسرسي اغیز لري.[20] هغه په غیر مستقیمه توګه وړاندیز کوي، چې حکومت دي په مخابراتي کمپنیو په کمه اندازه مالیات وضع کړي.

ځواب ورکوونکیو د لس سلنه محصول د وضع کولو په هکله ګڼ نظرونه وړاندي کړي. ډېری په دې باور دي، چې د وګړو یوه د پام وړ برخه، چې تر فقر لاندې ژوند کوي ( د نړیوال بانک – د اقتصاد وزارت راپور ښیي چې ۳۶ سلنه وګړي په فقر کې ژوند کوي) دا د هغوی په اوږو باندې یو غټ بار دی، چې دومره زیات محصول ورکړي. د دې لپاره، چې د مخابراتي خدمتونو محصول پرې نه کړي، نو تر ډېره بریده به بې وسه خلک له مخابراتي خدمتونو کارونه کمه کړي او یا به د خپلو هغو لګښتونو اندازه کمه کړي چې د نورو کورنیو اړتیاوو لپاره یې جلا کړي وي. په منظمه توګه د مخابراتي خدمتونو څخه ګټه اخیستل او معلوماتو ته لاس رسې د یو عادي ښاري لپاره په منفی بڼه متاثره کیږي. نو، یو شمېر ځواب ورکوونکو د حکومت له لوري د یو ځانګړي سیستم د رامنځ ته کولو وړاندیز کړی، چې د ټولنې هغه وګړو سره مرسته وشي، چې عواید یې ټیټ دي. په پایله کې، هغه شخص چې د میاشتې ۵۰۰ افغانۍ لګوي او بل کس، چې په میاشت کې ۵۰۰۰ افغانۍ د خپلو مخابراتي اړتیاوو لپاره لګوي، نه باید یو شان محصول ورکړي.

له بلې خوا، یو شمېر مرکه کوونکي د مالیې په ورکړه کې له توپیري چلند څخه خوښ نه وو. د دوی له نظره، هر ډول مالیه باید له ټولو وګړو څخه په یوه اندازه واخیستل شي او د هغوی عاید باید په پام کې ونه نیول شي. د هغوی دلیل دا دی، چې د مخابراتي خدمتونو محصول د خدمتونو په مصرف پورې تړلې، کله چې فقیر خلک کمې خبرې کوي او له انټرنټي خدمتونو څخه کمه ګټه پورته کوي، نو هغوی به کمه مالیه ورکوي، هغوي لوړه مالیه نه ورکوي. سربېره پر دې، د دوه اړخیزې مالي راټولولو سیستم پلي کول به د مالي څخه د تېښتې لار وموي او بالاخره د فساد لپاره به لاره هواره شي.

---

[15] محمد فایض سهاک، اداري فساد ضد څارنې او ارزونې کمېټې استازي سره مرکه، ۱۴ جون ۲۰۱۷

[16] موسی خان نصرت د ولسی جرګې د مخابراتو د کمیسون غړی سره مرکه، ۹ جولای ۲۰۱۷

[17] نعمت الله سلطانی، د مالیی چارو کارپوه سره مرکه، ۹ جولای ۲۰۱۷

[18] عبدالله احمدی د ځایي مدنی ټولنې د ګډ کاري ګروپ استازی، ۱۱ جون ۲۰۱۷

[19] سیف الدین سیهون د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځی فروفیسور سره مرکه، ۱۵ جون ۲۰۱۷

[20] عبدالمجیب خلوتګر د نی اداری اجرائیه رئیس سره مرکه، ۱۳ جون ۲۰۱۷

سره له دې چې د د مخابراتي خدمتونو محصول کې د عدالت په اړه مختلف نظرونه شته، بيا هم ټول ځواب ورکوونکي په ګډه يو نظر لري، چې خلک په خوښې سره محصول ورکوي، خو که چيرې حکومت د دغه محصول د شفافيت او سم مصرفولو په اړه خلکو ته ډاډ ورکړي. د دوی په اند، د مخابراتي خدمتونو محصول په افغانستان کې په ورستيو کې وضع شوی، خو په نورو هيوادونو کې له لسيزو راهيسې خلک ورته محصول حکومت ته ورکوي. له دې امله، چې په باندنيو مرستو اتکا کمه او د هيواد مالي بنسټونه قوي شي نو، د د مخابراتي خدمتونو محصول راټولول ډېر اړين دي.

د محصول را ټولولو د ميکانيزم او د هغه د لګښت په هکله، چې له دوه کالو راهيسې ټوليږي، د مرکه کوونکيو ځواب دا وو، چې اوس هم حکومت د دغې موضوع په هکله خلکو ته مناسب معلومات نه دي وړاندي کړي. زياتره د دغو کسانو څخه چې د مالي ټولولو او يا په ورته برخه کې تجربه لري، تر اوسه هم د دغه سيستم په هکله، چې ترې ګټه پورته کيږي پوره معلومات نه لري. ښه بيلګه يې د مخابراتو د پخواني وزير اعتراف دی، چې په مطبوعاتي کنفرانس کې يې د يو کتور مالي او د عوايدو د راټولولو سيستم په اړه کافي معلومات نه درلودل. د مشرانو جرګې د يوې غړې آغلی ګلالۍ اکبري تبصره، چې خپله يې اعتراف وکړ، چې هغې ونه شو کولای، څو خپلو موکلينو ته د مخابراتي خدمتونو د محصول راټولولو په هکله د منلو وړ ځوابونه ووايي.[٢١] د افغانستان د روڼتيا د څار اداري رئيس، چې اطلاعاتو ته د لاسرسي کميسون مشري هم پر غاړه لري ورته نظر څرګندوي.[٢٢] دده په اند، د ملي يووالي حکومت تر اوسه د مخابراتي شرکتونو د پيرودونکيو څخه د ترلاسه شوو محصول په اړه کافي معلومات نه دي وړاندي کړي، په داسې حال کې چې د شفافيت د ودې پخاطر بايد اړوند وزارت؛ عامو وګړو ته وخت په وخت معلومات وړاندې کړي.

په عين حال کې، د مخابراتي سکتور څخه د عوايدو لاسته راوړلو اندېښنه يوې خواته، مرکه کوونکي پر دې هم ټينګار کوي، چې حکومت بايد وګړو ته د راټول شويو عوايدو او محصول د مصرف په اړه هم معلومات وړاندې کړي. په عمومی ډول، دوی په دې باور دي، چې زيربنا او عام وګړي فقير پاتي، او حکومت بايد يو پلان جوړ کړي چې څنګه عوايد د کليدي برخو په پياوړتيا کې ولګوي. سربيره پر دې، د خلکو عوايد د دولت د احتمالي عوايدو لپاره د احتساب وړ وو، چې د يو ستر خنډ په توګه تعقيب شوي چې دا کار د معافيت کلتور ته وده ورکوي. د دوی په اند، که چيرې افغانان خپل حکومت نه د لګښتونو په برخه کې حساب و نه غواړي، لکه څنګه چې په نورو هيوادونو کې خلک دي، د دې احتمال شته چې په لنډه موده کې به فساد له منځه لاړ نه شي. له دې امله، د حکومت لپاره ډېره اړينه ده، چې د يو شفاف، حساب ورکونکي ميکانيزم او وخت په وخت معلومات ورکولو سيستم جوړ کړي، څو وګړو ته د راټول شوي محصول د مصرف په هکله کره او منظم معلومات ورکړي، چې راټول شوي ماليات چيرته او څنګه مصرفيږي. که چيرې ورته کار ونشي، نو خلک به د بسپنه ورکولو د روڼتيا پر ډاډمنتيا به باور له لاسه ورکړي او د مالياتو د ورکړې څخه د مخنيوي لپاره به نورې لارې چارې وګوري.

ډېرې ځواب ورکونکي په دې باور دي، چې د محصول د راټولولو لپاره د يو منظم ميکانيزم نه شتون د دې لامل شوی، چې دا سيستم هغومره شفاف نه وي، چې بايد وای. د دوی په اند، نه عام وګړي او نه هم ډېری حکومتي چارواکي پوهيږي، چې څومره د مخابراتي خدمتونو محصول راټوليږي او پيسی چيرته مصرفيږي. حتی د پارلمان وکيلان چې د حکومتي چارواکو او مسئولينو له کړنو څخه د څار دنده پر غاړه لري د دغې پروسې له روڼتيا څخه ډاډه نه دي.

مالي کارپوه ښاغلی سلطاني په دې باور دی، کله چې د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو موضوع رامنځته کيږي نو دولت په هغو راپورونو تکيه کوي، چې د مخابراتي کمپنيو څخه يې تر لاسه کړي دي، او د مخابراتو او معلوماتی تکنالوژئ وزارت د دې وړتيا نه لري، چې په خپلواکه توګه دغه راپورونه وارزوي.[٢٣] په پايله کې، مخابراتي کمپنی دا چانس ترلاسه کوي، چې خپل سوابق ترميم کړي او په مالي سوابقو کې خپل عايد کم وښيي.

په هېواد کې د ناثبت شويو سيم کارتونو شتون يوه د پام وړ اندېښنه ده. هغه ادعا کوي، چې د د مخابراتي خدمتونو محصول پلي کولو لوی لامل د عوايدو کسر دی، چې په ورستيو کلونو کې په چټکی سره زيات شوی. د مخابراتي کمپنيو د کره مالي اسنادو نشتون د دې لامل کيږي، چې دا ادعا تائيده نشي.

## ٢,٢ د د مخابراتي خدمتونو محصول لنډ مقايسوي تحليل او د هغه روڼتيا

د مالياتو وضع کول په مختلفو سکتورونو کې د هر هيواد په پاليسيو او لومړيتوبونو پورې اړه لري. په يو ځانګړي سکتور د مالياتو وضع کولو لپاره هر هيواد بيلابيل فکتورونه په نظر کې نيسي لکه: د پانګوالو هڅوونه، د بهرنيو پانګو جذبول، سياليو ته وده ورکول او داسې نور. د مرکه کوونکو ځواب داسې غوښتنه کوي، چې دوي دقيقاً نه پوهيږي، چې په مخابراتي سکتور د مالياتو وضع کول لوړ دي او که ښکته او که د حکومت د مالياتو د پاليسي سره سم دي. اوسنی وضع شوی محصول نسبت هغو ماليو ته چې په نورو برخو کې وضع شوي لوړه ده، خو پرته د مدنی ټولنې د سازمان استازي څخه چې هغه يادونه وکړه، چې د بازار موندنې فعاليتونو باندې دوه سلنه ماليه وضعه شوې ده، نورو په دې اړه د يوې کره سلنې يادونه ونکړه، چې په نورو سکتورونو کې ماليات وضعه شوي وي.[٢٤]

---

[٢١] ګلالی اکبری، د مشرانو جرګی د مخابراتو د کميسون مرستياله، ١٢ جون ٢٠١٧
[٢٢] د آی ډبليو ای له رئيس سره مرکه
[٢٣] نعمت الله سلطانی سره مرکه
[٢٤] عبدالله احمدی سره مرکه

سربېره پر دې، یو شمېر خواب وېونکي په دې اند دي، چې حکومت مخابراتي سیستم د عوایدو تولیدونکي وسیله نه ګڼي، چې د بهرنیو مرستو ځای ناستي په توګه وکارول شي. د دې پر ځای، د نورو عواید او سرچینو لکه د کانونو را ایستل، د ترانسپورت مالیات او داسې نور وپېژندل شي او د شته بودیجې کمښت پوره کړي (سلنه باید شامله شي).

په عین حال کې، یو شمېر مرکه کوونکي پر خلکو د مبائیلونو د محصول د وضع کولو سره حساس وو. دوي په دې باور دي، چې مخابراتي سکتور باید د هیواد لیرې کلیوالي سیمو ته خپل د خدمتونو لړۍ وغزوي او د پام وړ نفوس تر خپل پوښښ لاندې راولي. نو له همدې کبله، حکومت باید د سیمې وګړو ته ډیجیټل مخابراتي خدمتونه وړاندې کړي، د دې پر ځای چې نور هم مالیات وضعه کړي. هغوي دا اندېښنه هم درلوده، چې د لوړ محصول وضع کول به د مخابراتي خدمتونو ګټه اخیستونکي کم کړي، په لومړي قدم کې به د مخابراتي کمپنیو ګټه کمه کړي او په پای کې به هغه بهرنۍ بالقوه کمپنۍ هم بې زړه کړي چې غواړي د افغانستان په مخابراتي سکتور کې پانګونه وکړي.

## ۲,۳ پر خلکو او سوداګرۍ د د مخابراتي خدمتونو محصول اغیزې

کله چې مرکه کوونکي د مخابراتي خدمتونو محصول او معلوماتو ته د لاسرسې په هکله وپوښتل شول نو هغوي متضاد نظرونه وړاندې کړل. له یو لورې، د مدني ټولنې د سازمان استازي او بل غیر دولتي چارواکو دا اندېښنه وښوده، چې معلوماتو ته لاسرسی د هیواد د هر وګړي لومړنی حق دی، چې په یو ډول به د د مخابراتي خدمتونو محصول تر اغیز لاندې راشي. د دوي په اند، کله چې د مبائیلونو کاروونکي د دې لپاره چې دا شان خدمتونو ته لاسرسی پیدا کړي، چې پخوا یې درلود او لس سلنه اضافي محصول ورکړي نو دوي به په اتومات ډول خپل د انټرنټ او نور مخابراتي خدمتونه په هماغه سلنه کم کړي، په پایله کې به ځوانان چې د مبائیل د خدمتونو ډېر کاروونکي دي په پرله پسې توګه به له ټولنیزو او خبري ویبپانو څخه کمه استفاده وکړي. له بلې پلوه، هغه کاروونکي، چې په خصوصي او دولتي سکتور پورې تړاو لري په دې باور دي چې اوسنی محصول چې د مبائیل خدمتونو له کاروونکیو څخه وضع کېږي زیات نه دی او په وګړو به اغیز ونکړي.[۲۵] دوي په دې باور دي، چې د مخابراتي خدمتونو ډېري کاروونکي خصوصاً د ټولنیزو شبکو کاروونکي هغه لوستي ځوانان دي چې ډېری یې په ښارونو کې ژوند کوي. دغه د پام وړ ځوانان هغه برخه ده، چې یا خو په نړیوالو سازمانونو او یا هم خصوصي کمپنیو کې کار کوي او د عاید د لاسته راوړلو یوه سرچینه لري، له دې امله، دوي ډېر زیان منونکي نه دي؛ لکه هغه نور خلک چې مختلف مالیات لکه د عوایدو مالیه، د ملکیت مالیه او داسې نور ورکوي.

په هر ترتیب، دواړه ډلې کیدای شي د خپلو نظرونو د توجیه لپاره دلیلونه راوړي، خو په حقیقت کې په مخابراتي خدمتونو د محصول وضع کول معلوماتو ته په لاسرسي باندې مستقیم او غیر مستقیم اغیزې لري. ځوانان او مېرمنې چې له مالي پلوه په خپلو پلرونو او میندو پورې تړلي دي، کیدای شي په شخصي ډول کوم اغیز احساس نکړي، مګر هغوي چې د خپلو مبائیلونو لګښتونه ورکوي هغوی دا احساسوي.

سر بیره پر دې، مرکه کوونکو د کلیوالي سیمو کې د ژوند کولو او د ډیجیټل شاملیدلو د خنډونو په اړه هم خپله اندېښنه څرګنده کړله. په داسې حال کې چې د کره ارقامو او احصایې په نه شتون کې د دې معلومول ډېره سخته ده، چې څنګه به د مخابراتي خدمتونو محصول له ډیجیټل محصولاتو څخه د کاروني پر وړاندې خنډ وګرځي، د ځینو اړوندو فکتورونو تحلیل شاید تر یوه حده دې پوښتنې ته ځواب ووایي. یو له فکتورونو څخه چې ډېرو ځواب ورکوونکیو د مرکې پر محال ترې یادونه وکړه، هغه د کلیوالي ژوند د عواید د کچې ټوپیر دی، چې په عمومي توګه له ښاري ژوند څخه کم دی. د دې حقیقت په نظر کې نیولو سره، کلیوال خپل د مبائیلونو د خدمتونو لګښتونه د خپل د لومړیتوبونو د لست په پای کې پرېږدي. نو له همدې کبله مخابراتي کمپنۍ په ښاري سیمو او هغه سیمو ته چې خلک یې کولای شي خپلو خدمتونو د پوره کولو وس ولري تر پوښښ لاندې راولي او کلیوالي سیمې له پامه غورځول کېږي. په پایله کې، د ډیجیټل اغیز په هغو خلکو چې په دې سیمو کې اوسېږي په غیر مستقیمه توګه خنډ جوړوي، چې دا بیا کلونه او لسیزې نیسي، څو دا خلک هغسې خدمتونو ته لاسرسې ومومي کومو ته چې ښاري سیمې لري. د افغانستان د ځینو ولایتونو او ولسوالیو اوسیدونکي هم حق لري، څو د 3G, 4g او د مبائیل د پیسو د لیږلو خدماتو ته لاسرسی ومومي.

سربېره پر دې، بل خنډ نااملني ده، چې په کلیوالي سیمو کې له ډیجیټل محصولاتو څخه د خلکو کارونه تر اغیز لاندې را ولي. دا یوه بله پټه موضوع ده، چې په ډېرو نااامنه سیمو کې مخابراتیې د خپلو انتنونو د ساتنې او خوندیتوب لپاره یاغیانو ته پیسې ورکوي. نو له همدې سببه په دغو سیمو کې د مخابراتي خدمتونو وړاندې کوونکي کم دي، دوي به خپل انتنونه غلې کړي څکه دوي نور له

[۲۵] صیام الدین پسرلی د ای آی سی سی ویاند سره مرکه ۱۴ جون ۲۰۱۷

اقتصادي پلوه وړ نه دي. له دې امله، خلک به ونه شي کولای چې د مبائیل خدمتونو ته لاسرسې پیدا کړي او ډیجیټلي ټولنې سره یوځای شي.

ځواب ورکوونکي ویشلي ښکاریدل کله، چې د مخابراتي خدمتونو د محصول د وضع کیدو او د هغه اغیز د افغانستان د سوداګرۍ په هکله وپوښتل شول. ځیني په دې باور دي چې سوداګري په مبائیل او انټرنټي خدمتونو باندې ولاړه ده او د محصول ورکړه به یقیناً ور باندې اغیز ولري.

د ښاغلی سلطاني په وینا که د وارداتو او صادراتو یوه ځایي کمپنی د ورځې ۱۰۰۰ دقیقې نړیوالې اړیکې د سوداګریزو مرکزونو سره لکه دوبی او یا هند سره ونیسي نو دوې اړ دي، چې د خپلو اړیکو لپاره لس سلنه اضافي لګښت ورکړي. [۲۶] نو دا کمپنې د خپلو سوداګریزو لګښتونو په اړه ډېره پام کوي، نو په دې توګه یا به دا کمپنی خپل د خبرو کولو وخت را کموي او یا به لس سلنه اضافي لګښت ورکوي، چې دا لګښت به بیا په هغو محصولاتو اچوي، چې دوي یې واردوي. په هر حالت کې، د مخابراتي خدمتونو مالیه سوداګرې اغیزمنوي او بالاخره شرکت او یا عادي وګړي دي چې د دې محصول بار په ځان اخلي.

بلخوا، یو شمیر مرکه کوونکي په دې اند دي چې اوسنې وضع شوی محصول ډېر لوړ نه دی او شاید په سوداګرۍ اغیز ونکړي. د دوي په اند، تیره بیلګه ښایي که چیرې حکومت نوې مالیه وضع کړې او یا یې د پخواني مالیي سلنه زیاته کړي، نو سوداګرو دغه مالیه په محصولاتو اضافه کوي، چې په پای کې مصرفوونکې دغه مالیه ورکوي نه سوداګر. سربیره پر دې، دوي وایي چې ټوله سوداګري هم په ژوره توګه په مبائیل او انټرنټي خدمتونو ولاړه نه ده او یوه زیاته اندازه کمپنی او سهامي شرکتونه په صادراتو او وارداتو کې کډ دي. له دې امله، د مخابراتي خدمتونو د مالیاتو وضع کول به د سوداګرۍ په قیمت کوم د پام وړ اغیز ونلري او همدارنګه ځیني کمپنی او سهامي شرکتونه ممکن اغیزمن شي، او اکثریت به خپلې سوداګرۍ ته د پخوا په شان دوام ورکړي.

### ۲،۴ د د مخابراتي خدمتونو محصول لپاره د بدیل پلټنه

د ژورو مرکو لپاره کارول شویو پوښتنو کې داسې پوښتنې هم وې، څو د محصول په اړه د مرکه کوونکو وړاندیزونه هم په راپور کې شامل شي. ددوي نظر غوارې چې د خدمتونو محصول باید په کمپنیو وضع شي او یا په کاروونکیو. اکثریت ځوابونه وړاندیز کوي، چې بدیل د دوي په کته نه دی. مرکه کوونکي په دی باور دي، چې مخابراتي کمپنی له پخوا مختلف مالیات ورکوي لکه د عوایدو مالیه، د وارداتو مالیه او داسې نور، نو د اضافي مالیي وضع کول دوي ته ستونزمن دي، چې په هیواد کې دې فعالیت وکړي.

سربیره پر دې، د دې کمپنیو د فعالیتونو قیمت له پخوا لوړ دی او دوي یو غټه اندازه پیسې د خپلو بنسټونو د امنیت لپاره ورکوي، دا هغه څه دي، چې په نورو هیوادونو کې معمول نه دي. سربیره پر دې د نورو مالیاتو وضع کول به هغه بهرنې پانګه اچوونکې زړه مات کړي، چې په مخابراتي سکتور کې د پانګه اچونې موقع ته ګوري. په پایله کې، یوازې څو مخابراتي کمپنی به فعالې وي، چې مارکیټ به یې په خپل انحصار کې نیولی وي او د خدمتونو نرخونه به باثباته وي. ځیني ځواب ویونکي په دې باور دي چې د مبائیل کاروونکي د مخابراتي خدمتونو لپاره محصول ورکوي نو دا د مخابراتي کمپنیو دنده ده، چې قیمتونه را ټیټ او د خپلو خدمتونو کیفیت لوړ کړي.

یو شمېر نورو ځواب ویونکیو له دې تصور سره همغږي نه دي. ددوې په اند، چې مخابراتي کمپنیو په ورستیو پنځلس کلونو کې په بیلیونونو افغانی ګټلي، نو دولت باید په دوي باندې یو اندازه مالیه وټاکي. په دې توګه، دا وخت دې چې لومړي د دوی له عوایدو څخه لس سلنه د مخابراتي خدمتونو محصول وضع او بیا ورو ورو محصول پیرودونکیو ته انتقال شي.

ښاغلی سیهون چې د کابل پوهنتون د اقتصاد په پوهنځي کې استاد دی له دې استدلال څخه په کلکه ملاتړ کوي. [۲۷]

د هغه په اند، مخابراتي کمپنی باید له خپل خالص عاید څخه د یو روڼ طرزالعمل او میکانیزم پر بنسټ مالیه ورکړي، ځکه چې دا حکومت ته ډېره اسانه ده چې د دوي په دقیق عاید باندې پوه شي.

د نورو بحثونو او څیړنو څخه لاندې بدیلونه چمتو شوي دي:

---

[۲۶] نعمت الله سلطانی سره مرکه
[۲۷] سیف الدین سیهون سره مرکه

- د بې وزلو خلکو لپاره د یوې ټاکلی اندازې لپاره د محصول معافیت ورکول
- په تدریجی توګه د مخابراتي خدمتونو د محصول کموالی لکه پر معاشونو مالیه
- د یو وخت لپاره د محصول د راټولولو ځنډول تر هغې چې د خلکو کلنی عاید لوړ شي
- د د مخابراتي خدمتونو محصول د سلنې را ټیټول

په هر حال، له وراندیز شویو بدیلونو څخه هیڅ یو هم د مرکه کوونکیو ملاتړ جلب نه شو کړای. د دوی په اند، د پیرودونکو پواسطه د مالیي ورکړه په نړۍ کې معمول دی او که چیري په مقایسوي ډول وکتل شي، نو په افغانستان کې د دې محصول سلنه کمه ده. سربیره پر دې، دوی ټینګار کوي، چې هر یو د وراندیز شویو بدیلونو تطبیق اضافی منابعو، تخنیکي مهارتونو او اوږدو طرزالعملونو ته اړتیا لري. نو د اوس لپاره، له مخابراتي پیرودونکو محصول حکومت ته د عوایدو د تولید یو غوره انتخاب دی.

## دریم څپرکی: عامه نظر، اغیزې او تمې

دا څپرکی د خلکو نظرونه دي، چې د ګروپي بحثونو یا FGDs او عامه نظرونو د سروې له لارې څرګند شوي، چې نوموړې سروی د افکک له لوري ترسره شوې. د دې حقیقت په پام کې نیولو سره، چې د ځانګړو تخنیکي مسئلو په اړه عامه پوهاوی لکه مالیه ورکول د هغو کسانو په پرتله محدود دي څوک چې په دې سیمه کې کار کوي او یا د محصول شالید په اړه معلومات ولري، پوښتنلیک کې ډیرې ساده پوښتنې لیکل شوې دي. د پایلې په توګه، ورکړل شوي ځوابونه هم ډېر عمومي دي او د مخابراتي خدمتونو غوره کول او د محصول د ورکړې او یا د اشخاصو د شخصي تجربو او انتخاب په شاوخوا راڅرخي.

### ۳,۱ د د مخابراتي خدمتونو محصول په اړه د خلکو درک

په عمومي ډول د ۱۰ سلنه د مخابراتي خدمتونو محصول ټولولو په اړه خلکو مثبت درک درلود. ګڼ شمیر پیرودونکیو د محصول اخیستو څخه ملاتړ کوي او په دې اند دي چې افغانان هم باید د نورې نړۍ د وګړو په څیر محصول ورکړي. د دوې په اند، حکومت باید د عوایدو بدیلي سرچینې وپېژني تر څو وکړای شي د بهرنیو مرستو کمښت جبران کړي. سربیره پر دې، ځواب ورکوونکي په دې باور دي، چې د افغانستان د اساسي قانون (۴۲ ماده) پر بنسټ دولت صلاحیت لري، چې د قانون مطابق مالیه ټوله کړي، نو دا د هیواد د هر وګړي دنده ده چې باید مالیه ورکړي. په هر صورت، ټول ځواب ورکوونکي په سمه توګه له پیرودونکیو څخه د محصول راټولولو ملاتړ نه کوي او له حکومت څخه غوارې مخکې له دې، چې پوره ملاتړ وکړي باید ځینې حالتونه او اصلاحاتو ته پام وکړي. په مجموعي توګه، هغو مرکه کوونکو چې ځوابونه وړاندې کوي په لاندې کټګوریو ویشو:

- **د محصول له ټولولو څخه بې شرطه ملاتړ:** هغه کسان، چې په دې کټګورۍ کې شامل دي، د حکومت له دې توجیه سره په بشپړ ډول موافق دي چې د عوایدو زیاتولو او په نړیوالو مرستو تکیه کمولو لپاره د محصول راټولولو ته اړتیا لري. د دوی په وینا، عواید به د ملي بودیجې پیاوړتیا کې ونډه واخلي او حکومت به د دې توان پیدا کړي، چې په اساسي عامه خدمتونو لکه روغتیا، ښوونه او روزنه، بریښنا او نورو باندې ډیره پانګونه وکړي.
- **په مشروط ډول د محصول له ټولولو څخه ملاتړ:** یو شمیر ځواب ویونکیو د محصول راټولولو څخه ملاتړ وکړ، مګر په ورته وخت کې هغوی شرطونه وړاندې کړل، چې دوی به محصول ورکوي خو دا شرطونه یې باید ومنل شي. دا شرایط په عمومي ډول، د محصول راټولولو لپاره د کټور سیستم رامنځته کول وو، خو له یوې خوا د محصول را ټولولو کې د فساد شتون له منځه لاړ شي او همدارنګه د حکومت لخوا د پروسې روڼتیا یقیني کړي. دا ډله خلک په دې باور دي، که چیرې دا اصلاحات پلي نشي، نو ډیره ممکنه ده چې عواید به د څو فاسدو چارواکو جیبونو ته لاړ شي او یوازې یوه اندازه کمې پیسې به د دولت په خزانه کې زیرمه شي.
- **هغه څوک چې د مالیاتو د راټولولو ملاتړ نه کوي:** یو شمیر ګډون کوونکي د د مخابراتي خدمتونو محصول له وضع کولو څخه ملاتړ نه دی کړی. د دوی په نظر، په افغانستان کې ډیر نفوس د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي او دوی د خپلو اساسي مصارفو لپاره پیسې مصرفوي. نو له دې امله، د اضافي محصول رامنځته کول، حتی که یواځې یو کوچنی سلنه هم وي د دوې په اوږو باندې اضافي بوج دی. سربیره پر دې، دوی د بهرنیو مرستو ناسم چلند مثال بیان کړ، کوم چې په سمه توګه نه دی لګول شوي او په دې باور دي چې د مخابراتي پیرودونکو لخوا را ټول شوي عایدات به هم په ورته توګه ضایع شي.

لطفا لاندې چارټ ته مراجعه وکړئ ترڅو د هرې کټګورۍ دقیقي سلنې په اړه پوه شي:




سربېره پر دې، ځواب ویونکیو ټینګار کاوه، څو د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو سیستم له روڼتیا او همدارنګه د دې محصول له مصرف څخه ډاډ ترلاسه کړي او حکومت باید په دې برخه کې ځواب ویونکی وي. د دوی په نظر، په مساوي توګه د پیسو سم لګول مهم دي، چې کولای شي د فقرکمولو او د خلکو معیاري ژوند ته وده ورکړي. د نورو په څېر، مرکه کوونکیو هم ټینګار کاوه، چې دا عواید باید د امنیت ټینګولو، روغتیا او ښوونې او روزنې په برخو کې ولګول شي. سربېره پر دې، د ډله ییزو بحثونو ګډونوالو ترمنځ موافقه وشوه، چې حکومت باید خلکو ته په منظمه توګه د راغونډ شوي محصول په اړه معلومات وړاندې کړي او هرو کړې باید دې اسنادونو ته لاس رسی ولري.

د ډله ییزو بحثونو FGD ګډونوال د نظرونو پر خلاف،د عامه نظر پوښتنې په سروې کې ګډونوالو د د مخابراتي خدمتونو محصول له وضع کولو څخه د ملاتړ کچه ډېره کمه وه. لکه څنګه چې په لاندې جدول کې ښودل شوي، ګډونوالو نسبت نورو ځوابونو ته " په توله معنا نه" انتخاب کړی. پر پیرودونکیو د محصول وضع کولو ملاتړي د زده کوونکو تر منځ ټیټه وه(۶۵٪) چې وروسته د نادولتي مؤسسو کارمندانو او ورو سوداګریز مالکانو (۵۵٪) په داسې حال کې چې، د نورو ټولو ډلو په پرتله، لږو حکومتي چارواکو " په توله معنا نه" (۳۰٪) غوره کړې. برعکس، د مالیاتو وضع کول د ورو سوداګریزو مالکینو (۲۵٪) او نادولتي مؤسسو کارمندانو (۱۵٪) تر منځ د ډېرې مرستې کچه "ډېره مرسته" غوره شوي ده. په حیرانتیا سره، یواځې پنځه سلنه حکومتي چارواکو د "ډېرې مرستې" انتخاب غوره کړی. له همدې کبله، دا ویل کیدای شي چې د ډېرو فکتورونو لکه د پوهاوی نشتوالی، روڼتیا، عامه فساد او نورو هغه شکونه دي، چې خلک د پیرودونکیو د مالیې او د حکومت اړتیاو د پلي کولو لپاره اندېښمن دی او د حل لپاره یې کوټلي ګامونه نه پورته کیږي.

| | حکومتي چارواکي | د نادولتي مؤسسو کارکوونکي | زده کوونکي | د ورو سوداګریو مالکان |
|---|---|---|---|---|
| ډېر زیات | ۵ | ۱۵ | ۱۰ | ۲۵ |
| ځیني | ۱۰ | ۱۰ | ۱۰ | |
| لږه اندازه | ۳۵ | ۱۵ | ۱۰ | ۱۰ |
| ډېر زیات نه | ۲۰ | ۵ | ۵ | ۱۰ |
| په توله معنا نه | ۳۰ | ۵۵ | ۶۵ | ۵۵ |

د د مخابراتي خدمتونو محصول وضع کول، داسې ښکاري چې د خلکو په منځ کې د ملي عوایدو سره د بهرنیو مرستو بدیلونو لپاره لږ ملاتړ شتون لري. دا د سروې د ګډونوالو لخوا د سروې په فورمه کې د ورته پوښتنې د ځوابونو څخه څرګنده ده.

په اوسط ډول، د ټولو ګډون کونکیو ۱۲٪ ځواب د دې ښکارندوی و، چې ملي عواید باید د بهرنیو مرستو ځای ناستې شي (د مخابراتي خدمتونو محصول)، په داسې حال کې چې ۳۰٪ "نه" انتخاب کړې. په ځوابونو کې یوه په زړه پورې موضوع یادونه شوې، په دې اړه د خلکو د پوهاوی د کچې کموالی او د پوهې نشتوالی داسې ښایي چې دا د حکومت لخوا ترسره کیدای شي. په اوسط ډول، ۲۲٪ ګډون کوونکې وایي چې حکومت باید بهرنۍ مرستې له عوایدو سره

عوض کړي په داسې حال کې چې ۲۰ سلنه نورو ویلي چې دوی نه پوهیږي چې دا به یو ښه نظر وي. پاېلي داسې ښکاري، چې د دولت لخوا د مالیاتو راټولولو د مثبت اړخونو په ګوته کولو په موخه باید د عامه پوهاوي کمپاینونو پیلولو لپاره بېړني پروګرامونه په لاره واچول شي.




د سروې ګډونوال پر حکومت بې باوره دي، چې د مخابراتي شرکتونو له پیرودونکیو څخه را ټول شوي عواید به په سمه توګه ولګول شي. د نادولتی مؤسسو کارکوونکیو ۵ سلنه ویلي چې دوی باور لري چې حکومت به د خدماتو په وده کې عواید په سم ډول مصرف کړي. پاتې ګډونوالو د 'هو' ځواب هیڅ نه دی غوره کړی. په هیواد کې په اوسط ډول ۳۸٪ ځواب ورکوونکیو له ټولو کټګوریو د 'نه' انتخاب غوره کړی او ویلي یې دي، چې دوی باور نه کوي چې حکومت به داسې یو څه وکړي. سربېره پر دې، د سروې ۲۰٪ ګډونوال باوري نه دي چې حکومت به دغه عواید په سمه توګه مصرف کړای شي. په پایله کې ، ډېر لږ خلک د دولت لخوا د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو پر سیستم باور لري، په داسې حال کې، چې ډیری خلک پر دې بې باوره دي.

## ۳,۲ د محصول راټولولو او د هغه روڼتیا په اړه د عامو خلکو پوهه

کله چې له ګډونوالو د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو د قانوني اساس په اړه پوښتنه وشوه، ډیری یې په بشپړه توګه نه پوهیدل چې ولې او د کوم قانون پر بنسټ له دوي نه محصول راټولیږی. اکثره په دې باور دي هغه ۱۰ سلنه محصول چې وضع کیږي هغه د ولسمشر د فرمان پر اساس راټولیږي، په داسې حال کې چې لږ کسان په دې باور دي، چې دا د حکومت حق دی، چې څنګه او کله مالیات او محصول وضع کړي.  سربیره پر دې، د فرمان د مشروعیت په اړه د نظر اختلاف هم موجود دی، چې پر اساس یې د مخابراتي خدمتونو د محصول مسوده جوړه شوه. له دوی څخه، یوه ډله باور لري له دې کبله چې پارلمان په لومړی سر کې دا فرمان رد کړ، دا قانوني ارزښت نلري او د منلو وړ نه ګڼل کیږي.  برعکس، بله ډله داسې ښکاري چې د فرمان د پس منظر په اړه تفصیلي معلومات لري او په دې باور دي، چې د پارلمان غړي د قانون په پام کې نیولو سره دا تصویب کړه او لکه د نورو قوانینو په شان یې قانونی بڼه غوره کړه.

په هر صورت، له ګډون کوونکیو څخه هیڅ هم د داسې یو قانون نوم ونه شو ویلای، چې د هغې پر بنسټ د مخابراتي خدمتونو له پیرودونکو څخه دې ۱۰٪ محصول واخیستل شي.

**د افغانستان د اساسي قانون ۴۲ ماده**
هر افغان مکلف دی د قانون له حکمونو سره سم دولت ته ماليه او محصول ورکړي. هيڅ راز ماليه او محصول د قانون له حکمه پرته نه وضع کېږي. د ماليې او محصول اندازه او ورکړې ډول يې د ټولنيز عدالت په رعايت د قانون په وسيله ښوول کېږي. دا حکم د بهرنيو کسانو او مؤسسو په برخه کې هم تطبيقيږي. هر ډول ورکړل شوی ماليه، محصول او عايدات، دولتی واحد حساب ته تحويليږي

بله اړونده پوښتنه چې د ګروپي بحثونو لېکډونوالو څخه وغوښتل شوه د سرچينې په اړه وه چې لومړی دوی د کومې سرچينې څخه خبر شول، چې د مخابراتي شرکتونو پېرودونکيو باندې محصول وضع کېږي. ۴۴٪ ګډونوالو ځواب دا و چې دوي د مطبوعاتو په واسطه له د مخابراتي خدمتونو محصول د وضع کيدو څخه خبر شول ورپسې ۱۹٪ هغه کسان و، چې د خدمتونو وړاندې کوونکيو له لوري پې پيغامونه ترلاسه کړي. ۱۱٪ د فيس بوک او ۷٪ ملګرو د خلکو په پوهاوي کې کليدی رول لوبولی. يوازې ۴٪ ګډونوالو وويل چې د ولسمشر د فرمان د صادرولو څخه وروسته دوي ته د محصول د وضع کيدو خبر ورسيد. په هر صورت، دا معلومه نه ده چې دوی په لومړي سر کې د فرمان په اړه څه اوريدلي. موندنې ښيي چې رسنۍ د ډيرو مسئلو په اړه د افغانانو پوهاوي کې ډېر رول لوبوي او حکومت کولای شي د خلکو د پوهاوی لوړولو (د ماليې په شمول) لپاره له رسنيو څخه کار واخلي.




په پای کې، لکه څنګه مو چې ددې ارزونې په ډېرو برخو کې يادونه وکړه، د روښتيا نشتوالي يو له هغو انديښنو څخه ده، چې خلک يې د محصول راټولولو په اړه لري. ډيرى خلک په دې باور دي، چې د هرې اداري په ډيرو څانګو کې د ډير فساد له امله، تصور کول ستونزمن دي، چې د حکومت لخوا راټول شوي ټول محصول د دولت په خزانه کې ذخيره شي. د افکک په عامه سروې کې ګډونوالو هم ورته نظريات وړاندې کړي دي. يوازې د نادولتي مؤسسو او کوچنې سوداګرو (۵٪) فکر کوي چې د مخابراتي خدمتونو محصول په شفاف ډول راغونډيږي. د دې په مقابل کې، د ټولو کټګوريو منځنۍ کچه ۵۲٪ ځوابونه دا ښيي، چې په دې ډېر کې روښتيا نشته او په شفاف ډول دا محصول نه را ټوليږي او ۲۲٪ يقيني نه دي، او له دې امله يې 'ممکن' انتخاب غوره کړی.

| | دولتي چارواکي | د نادولتي مؤسسو کارکونکي | زده کوونکي | د کوچنيو سوداګريو مالکان |
|---|---|---|---|---|
| هو | | ۵ | | ۵ |
| ممکن | ۴۵ | ۵ | ۲۵ | ۱۵ |
| نه | ۴۰ | ۵۰ | ۵۵ | ۶۵ |
| نه پوهيږم | ۱۵ | ۴۰ | ۲۰ | ۱۵ |

## ۳،۳ شخصي اغيزې

داسې ښکاري چې پر پيرودونکو د محصول وضع کول، د مبائيل او انټرنټ په استفادې ډېره اغيز نه ده کړې. د ګروپي بحثونو له ۳۲ ګډونوالو څخه، دوه پر دريمه برخه (۱۹ ځواب ورکوونکې) ويلي، چې دوی د مخابراتي خدمتونو څخه هماغه ډول استفاده کوي لکه څنګه چې يې پخوا ترې ګټه پورته کوله. سربيره پر دې، ۱۳ پاتې مرکه کوونکې منې چې ددوی د ګټې اخيستنې خدمتونه د ٪۱۰ اضافي محصول په ډېريدو اغيزمن شوي دي. د دشت برچي د ډله ييز بحث ګډون کوونکيو داسې ځواب وايي، چې يو کاري ټولګې، چې د ښار په لويديځه برخه کې ژوند کوي د دې د مخابراتي خدمتونو محصول له امله ډېر سخت اغيزمن شوي دي. د دشت برچې له شپږو څخه پنځه تنو داسې اعتراف وکړ چې دوي له پخوا څخه اوس کمې خبرې کوي او له انټرنټ څخه لږ کار اخلي. د کارته نو له ساحې څخه د شپږو ګډون کوونکيو څخه يو وويل، چې د مالي په تاکل کيدو هغه د انټرنټ د کارولو عادت بدل کړی دی. د ډله ييزو بحثونو پاتې نور ګډون کوونکي د ښار له دريو کاونډيو برخو (خيرخانه، اوومه ناحيه او دارالامان) وړانديز کوي چې نيم په نيمه خلک (۳ له ۶) څخه د مالي په اخيستو اغيزمن شوي دي. له دې امله ويلای شو چې د مخابراتي خدمتونو محصول د عوايدو د ټيټې کچې خلک نسبت لوړې کچې ته، ډېر اغيزمن کړي دي.

د ډله ييز بحث په جريان کې، له ګډون کوونکو وغوښتل شول، چې ځانونه د متشبثينو په ځای وګڼي او فکر دي وکړي چې آيا د دوې سوداګرې د د مخابراتي خدمتونو محصول تر باالقوي اغيز لاندې راغلې کنه. په حيرانتيا سره د دوې ځواب برعکس هغه څه و چې تمه يې نه کيده، اکثريت وويل، چې د مالي ورکړه د دوي په کاروبار باندې کوم منفی اغيز نه کوي. د ځواب ورکوونکيو په اند، سوداګر په کافي اندازه پيسې لري، چې کولای شي د د مخابراتي خدمتونو محصول د لګښتونو لپاره يوه بله سرچينه ومومي، چې اضافي فيسونه جبران کړي. د هغو د تجربو پر بنسټ، ماليه تل پر محصولاتو اچول کيږي، چې د محصولاتو د قيمت لوړوالي يوازې د عادي خلکو په اوږو بار کيږي. په پايله کې، د مالي وضع کيدل د محصولاتو د قيمتونو د لوړيدو سبب کيږي. په عين وخت کې، (۳۲ څخه ۷) کسانو فکر کاوه چې د مالياتو تطبيق په هر کس، په ځانګړې توګه سوداګرو باندې اغيزه کوي. دا ځکه چې دوی د فابريکو له مالکانو، عرضه کونکيو، ليږدونکيو، د ګمرک چارواکي او نورو ډيرو خلکو سره په دوامداره اړيکو کې دي. له همدې کبله، سوداګر اضافي لګښتونه پورته کوي او د عامه کارکوونکيو يا د نورو خلکو سره چې معمولا لږ خدمتونه کاروي يو ډول د مخابراتي خدمتونو محصول ورکوي. له دې امله، سوداګر د مالياتو د زياتوالي لپاره زيان منونکي دي او حکومت بايد ځينو خلکو ته د مرستې چمتو کولو په برخه کې مرسته وکړې، په تيره بيا هغو کسانو ته چې په دې وروستيو کې يې سوداګرۍ پيل کړي دي، څو خپلو سوداګريزو فرصتونو ته وده ورکړي.

د ډله ييزو بحثونو په پرتله، کله چې د سروې ګډونوالو څخه پر اشخاصو د د مخابراتي خدمتونو محصول تاثيراتو په اړه پوښتنه وکړه، په منځنې ډول ٪۳۵ برخه اخيستونکيو له ټولو کټګوريو څخه ومنله، چې په شخصي توګه د مخابراتي خدمتونو محصول دوی اغيزمن کړي. په زده کوونکو باندې د پام وړ اغيزه ښکاري ځکه چې نيمايي ( ٪۵۰) ويلي دي، چې محصول کچه ډيره لوړه ده او د ګرځنده مبائيلونو او انټرنيټي خدمتونو په کارولو اغيز لري. د نادولتي مؤسسو کارکوونکي ترټولو لږ اغيزمن وو، ځکه چې يوازې د دوی ٪۲۵ ويلي چې دوی له د مخابراتي خدمتونو محصولاتو څخه اغيزمن شوي دي.




### ۳,٤ له دولت څخه د خلکو غوښتنې او تمې

د ګډونوالو تمې او هیلې له دولت څخه ډیره عامې او ساده وې. دوی له دولت څخه غوارې، چې د محصول اخیستنې میکانیزم رونوالی ولري او د اخیستل شوې پیسې (محصول) باید په سم ځای ولګوي شي. د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا هغوی غوارې دولت هغه خلک چې لږ عایدات لري له مالیه ورکونې څخه معاف کړي، کلک غبرګون وښود او ویې ویل، یو ځل چې دولت د محصول اخیستنې قانون اعلان کړ هر وګړی باید هغه پرې کړي او له دې پروسې څخه بهرونه ایستل شي. که داسې ونه شي هر یو به کوښښ کوي چې خپل عایدات کم وښيي او ځان له مالیه ورکولو څخه معاف وګڼي، په پای کې ډیر کم خلک به پاتې وي چې دولت ته محصول ورکوي. له دې سره به دولتي عایدات کم شي او دولت به دې ته اړ باسي چې ان د کوچنیو پروژو د پرمخ بیولو لپاره نړیوالو مرستو ته سترګې په لار واوسي.

له بلې خوا ځینې ګډونوالو بیا د هغه خلکو لپاره چې عایدات یې ډیر کم وي د مالي معافولو غوښتنه وکړه. د هغوی په وینا د افغانستان په زیاتو سیمو په ځانګړې توګه په لیرو پرتو سیمو کې خلک د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي. د هغوی عایدات د هغوی ورځنیز لګښتونه هم نه شي پوره کولای نو ځکه باید له محصول ورکولو څخه معاف شي. د دې موضوع روښانولو لپاره هغوی د معاشونو مالیه ورکولو سیستم ته اشاره وکړه چې یو ټاکلې اندازې معاش (ټیټ معاش) مالیه هم معاف شوې او له هغو څخه چې معاشونه یې د ټاکل شوې اندازې څخه ښکته وي، مالیه نه اخیستل کیږي او یا هم ډیره کمه اندازه مالیه پرې کوي. نوموړي ګډونوال غوارې چې د معاشونو په شان، هغو خلکو ته چې عایدات یې کم وي هم باید مالیه معاف شي، څو د بې وزلو خلکو پر اوږو بار لا ډیر نه شي.

په پای کې، کله چې د ګډونوالو څخه په دې هکله پوښتنه وشوه چې ایا غوارې دولت په مخابراتي کمپنیو د لا ښه خدمتونو وړاندې کولو لپاره فشار راوړي، ګډونوالو بیلابیل نظرونه درلودل. په عامه توګه هغوی په دې نظر وو چې، وروسته له دې چې دولت آزاد بازار سیستم اعلان کړ، دولت خپل صلاحیت له لاسه ورکړ، چې مخابراتي کمپنۍ تر فشار لاندې راولي ترڅو څه ډول خدمتونه باید وړاندې کړي. له بله اړخه دولت د مخابراتي خدمتونو د پیریدونکیو څخه محصول هم اخلي نو ځکه دا د دولت دنده ده، څو مخابراتي کمپنیو ته داسې زمینه برابره کړي چې په غیر مستقیم ډول د هغوی خدمتونه د لا ښه والي په لور ودرومي. ځینې ګډونوالو چې غوښتل یې دولت د مخابراتي کمپنیو فعالیتونه تر کنټرول لاندې ونیسي وویل چې دولت باید داسې پالیسۍ جوړې کړي چې په مرسته یې مخابراتي کمپنۍ د دولت تر کنټرول لاندې راشي.

ځینې نورو ګډونوالو بیا د دولت لخوا د داسې ستراتیژۍ جوړولو غوښتنه کوله چې وکولای شي دولت ته په غیرمستقیمه توګه د مخابراتي کمپنیو کنټرول په لاس کې ونیسي. یو له وړاندیزونو څخه دا وو چې دولتي مخابراتي کمپنۍ فیسونه کم کړي، څو د سالم رقابت زمینه برابره کړي، د نویو مخابراتي وسایلو واردولو مالیه هم کمه کړي ترڅو نوښتونه رامنځته شي او همدا راز د مخابراتي کمپنیو لپاره ځمکه ځانګړې شي ترڅو خپلو عملیاتو ته په پراخه کچه پراختیا

ورکړي. په پای کې هغوی په دې هم ټینګار وکړ چې ټولو مخابراتي کمپنیو ته باید په یوه سترګه وکتل شي او یوې کمپنۍ ته تر بلې باید لومړیتوب ور نه کړای شي.

په همدې ډول د سروې ګډونوالو ته د پیرېدونکیو د محصول بدیل لپاره څو تاکني وړاندې شوي وې او ورڅخه غوښتل شوي وو چې دوی خپل بدیل وټاکي. ۲۸ سلنه ګډونوالو غوښتل چې د پیرېدونکیو محصول پر ځای د مخابراتي وسایلو د واردولو په بدل کې باید د مخابراتي خدمتونو کمپنیو مالیه اوچته شي. خو دا غوښتنه د ډله ییزو بحثونو د ګډونوالو له نظر سره په ټکر کې وه. د ډله ییزو بحثونو ګډونوالو بیا دا شان څرګندونې کولې چې ګواکې مخابراتي کمپنۍ اوس هم څو ډوله مالیه دولت ته ورکوي، د بل ډول مالیې په اضافه کېدو سره، له یو خوا د مخابراتي کمپنیو عایدات کمیږي او له بله پلوه نور سوداګر په مخابراتي سکتور کې پانګونې ته زړه نه ښه کوي. ډېرو کمو ګډونوالو (۳ سلنه) ټینګار کاوه، چې پر عایداتو باید مالیه وضع شي.




دا موندنې ښیي، چې ټولو ګډونوالو غوښتنه کوله، څو پر ټولو یو شان محصول، مالیه او قانون پلي شي. د ډله ییزو بحثونو او عمومي سروې ګانو ګډونوال دواړه په دې نظر وو چې هیڅ څوک د هیڅ ډول عذر په وړاندې کولو سره باید د محصول ورکونې څخه معاف نه شي.  که چېرې دولت غواړي چې د هیواد له بې وزلو او نورو زیان لیدونکیو کسانو سره مرسته وکړي، باید له نورو بدیلونو څخه کار واخلي، څو په غیر مستقیم ډول سره خلکو ته خدمت وکړي.

## ستونزې

د نورو سکتورونو څخه د مالیې اخیستنې په شان د مخابراتي خدمتونو له پیرېدونکو څخه د محصول اخیستنې بهیر هم له یو شمیر ستونزو سره مخ دی. دا ستونزې د مخابراتي خدمتونو پیرېدونکو  څخه د محصول اخیستنې له پیل څخه (نژدې دوه کالو راهیسې) شتون لري او د دې بهیر موثریت او روڼوالي تر منفي اغیزې لاندې راولي. دا په داسې حال کې ده چې دولت د دغو ستونزو د له منځه وړلو لپاره باید کوټلي ګامونه واخلي، که چېرې ورته سیستم په همدې ډول فعاله وي، نو د خلکو باور به د مالیې پر سیستم کم شي. په پایله کې د دولت عایدات له مخابراتي سکتور څخه کمیږي، چې په اوږدمهاله ډول د دولت عمومي عایدات کموي. د ګډونوالو لخوا ځینې دغه ستونزې په لاندې ډول تشریح کیږي:

- **د ګټور میکانیزم نه شتون:** اوس مهال د د مخابراتي خدمتونو محصول د ټولونې لپاره یو ګټور میکانیزم شتون نه لري. د دري ارګانونو د څارنې کمیته چې ۱۱ غړي لري په دې نه توانیږي، څو د مخابراتي خدمتونه محصول په سمه توګه جمع کړي او همدا راز نه شي کولای د دغو کمپنیو څخه ترلاسه شوي راپورونه ، چې په میاشتني توګه یا څلور میاشتو کې یې ترلاسه کوي، د زیاتو راپورونو له امله نشي کولای، چې وڅیړي. له دې سره سره، د RTDMS د پیرلو او نصبولو بهیر شایي څه موده ونیسي، نو ځکه په فساد اخته چارواکي له دې چانس څخه په استفادې کولای شي پیسې د خپلې شخصي ګټو لپاره و کاروي.
- **ناڅرګنده مسوولیتونه:** اوس مهال د کمیټې د غړو دندې او مسوولیتونه په څرګند ډول نه دي مشخص شوي. د کمیټې غړي لا تراوسه په دې نه پوهیږي چې کوم غړي (وزارت) د محصول اخیستنې د سیستم اصلي اجرا کوونکی دی او کوم غړي باید د کمپنیو څخه لس سلنه محصول را ټول کړي. په څیړنه کې مرکې دا څرګندوي، چې مالیې وزارت په دې باور دی چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت باید دا پروسه پرمخ یوسي او همدارنګه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت بیا برعکس نظر لري. ترهغه چې نوی سیستم په لار اچول کیږي، شته بې ثباتي به اوسنی میکانیزم لا خراب او پایله به یې په ناکامۍ ختمه شي.
- **قانوني خلاوې:** د نورو ستونزو او خنډونو ترڅنګ قانوني خلاوې او پالیسۍ چې مخابراتي سکټور کنټرولوي هم یو له لویو ستونزو څخه ګڼل کیږي. ډیری قوانین د پرمختللي هیوادونو څخه کاپي شوي، چې د هیواد شرایط په کې په هیڅ ډول په نظر کې نه دي نیول شوي. په پایله کې دولت نه داسې ورتیا لري چې یاد قوانین په سمه توګه پلي کړي او نه هم داسې پرسونل لري، چې د قانون ماتونکي وپیژني او هغوی ته سزاوې ورکړي.
- **د مسلکي کارکوونکي نه شتون:** د دې لپاره چې له مخابراتي سکټور څخه محصول جمع شي، دولت مسلکي کارکوونکو ته اړتیا لري ترڅو یاده پروسه پر مخ بیوځي. حال دا چې د اوسنی کمیټې غړي نه داسې تجربه او نه هم په دې برخه کې کافي زده کړې لري. کله چې دولت د RTDMS سیستم په کار واچوي، هغه وخت به هم مسلکي کارکوونکو ته اړتیا وي، څو دا سیستم پر مخ بیوځي. نو ځکه دولت او پالیسي جوړونکي باید په دې هکله توکلي ګامونه واخلي ترڅو د محصول اخیستنې بهیر ته راجع ګواښونکې ستونزې لیرې شي.
- **د عامه پوهاوي ټیټه کچه:** د مالیې سیستم په هکله په ځانګړې توګه د د مخابراتي خدمتونو محصول په هکله د خلکو د پوهې کچه ډیره ټیټه ده. د محصول د راټولولو د بهیر له پیلیدو څخه وراندې ، دولت هیڅ داسې کوم کمپاین په لاره نه دی اچولی چې په دې اړه د خلکو د پوهاوي کچه لوړه کړي. د مرکو په اوږدو کې ډیرو خلکو ویل چې هغوی د د مخابراتي خدمتونو محصول د راټولولو د قانون له پلي کیدو څخه دوه یا درې اونۍ وروسته خبر شول.
- **ناامني:** په هیواد کې نا امني هم د مخابراتي کمپنیو عملیات سوکه کړي دي. په ډیرو نا امنه سیمو کې ترهګرې ډلې د مخابراتي کمپنیو د انتنونو مرکزونه ویجاړوي او هغوی ته ډیر مالي زیانونه رسوي. د مثال په ډول تر اوسه د ام ټي ان مخابراتي شرکت شاوخوا ۴۰ مرکزونه د ترهګرو لخوا سوځول شوي دي. هر مرکز شاوخوا ۲۰۰۰۰۰ امریکایي ډالر ه لګښت درلود، چې د بیمې نه شتون په صورت کې ډیر لوی زیان یادې کمپنی ته اوښتی دی. نو ځکه کمپنی اړ دي چې له یو خوا دولت ته مالیه ورکړي او له بلې خوا طالبانو ته هم پیسې ورکړي ترڅو د هغوی فعالیتونو ته خنډ جوړ نه کړي. د داسې ستونزو شتون ممکن ګڼ شمېر سوداګر اړ کړي چې په مخابراتي سکټور کې پانګونې ته زړه ښه نه کړي چې په اوږد مهال کې د دولت عایداتو ته ستر زیان رسیږي.

## وړاندیزونه

په مخکنیو برخو که ذکر شوي دي، چې خلک او یو شمېر چارواکي د محصول را ټولولو د میکانیزم په اړه کم معلومات لري او د دې بهیر د روڼوالي په هکله راضي نه ښکاري. نو ځکه دولت ته په کار ده چې په دې اړه کوټلي ګامونه واخلي. د دې ستونزې حل لپاره دولت باید لاندې کړنې ترسره کړي:

- پر ریښتیني وخت د معلوماتو د تنظیمولو سیستم یا RTDMS په شان یو پرمختللی سیستم برابر کړي تر څو د مخابراتي کمپنیو څخه مالیه او محصول په اسانه ډول جمع کړای شي. دا په داسې حال کې ده چې ځینو چارواکو په خپلو مرکو کې ویل چې دوی غواړي د RTDMS سیستم وپیري خو لومړی باید خپل فعالیتونه پراخ کړي. د یو ګټور سیستم نه شتون په صورت کې دولت هیڅ کله هم نه شي کولای خپلې موخې ته، چې د مخابراتي سکټور څخه د مالیو جمع کول دي، ورسیږي. له دې سره سره، چارواکو ته به هم زمینه برابره شي، څو د مالیو په پیسو کې اختلاس وکړي او کمپنیو ته چانس برابر کړي چې خپلې مالیې به پشپړه توګه پرې نه کړي.
- د څارنې کمیټې د غړو دندې او مسوولیتونه باید په ښکاره ډول تشریح شي او همدارنګه د مخابراتي قانونونو او پالیسیو کې شته خلاوې په ګوته شي. لکه څنګه چې مخکې ذکر شو، د مسوولیتونو او صلاحیتونو ناسم ویش یو له لویو ستونزو څخه دی، د دې ستونزې حل کولای شي د کمیټې دندې لا رڼې او ګټورې کړي. د مخابراتي خدمتونو مالیې قانون هم له دولته غواړي چې په دې اړه یو ځانګړی قانون جوړ کړي. له دې سره متخصصین باید هغه قوانین چې مخابراتي سکټور کنټرولوي وڅاري او د دې لپاره چې د نړیوالو معیارونو سره یې برابر کړي، په نوموړو قوانینو کې بدلون هم راوړي.

- عامه پوهاوی زیات کړي او خلکو ته د مخابراتو خدمتونو د محصول اخیستنې په اړه لنډ معلومات ورکړي. د مخابراتي خدمتونو د محصول را ټولولو قانون له مخې د مالیې وزارت او د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت ژمن دي، چې څو ځله رسنیز کنفرانسونه ونیسي او خلکو ته د ترلاسه شوي محصول په اړه معلومات ورکړي. د دې ترڅنګ چارواکي باید د ترلاسه شوو پیسو لپاره خپل پلانونه هم څرګند کړي چې د عامه خدمتونو په کومو برخو لکه روغتیا، ښوونه او روزنه، بریښنا او نورو برخو کې غواړي دا پیسې ولګوي. له دې سره به د محصول را ټولونې بهیر په رونوالي او کټورتیا د خلکو باور لا پیاوړی شي. همدارنګه خلک او رسنۍ باید د محصول ټولو اسنادو او ریکارډونو ته هم لاسرسی ولري.
- دولت باید د مخابراتي کمپنیو او د هغوی د کارکوونکو امنیت تضمین کړي. دا موضوع باید د دولت د لومړیتوبونو څخه وي ځکه چې مخابراتي سکټور یو له هغو سکټورونو څخه دی، چې په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه یې د هیواد دننه خلکو ته کاري زمینه برابره کړې ده. د فزیکي امنیت ترڅنګ باید مخابراتي کمپنیو د پیریدونکیو ریکارډونو، مالي ډیټابیسونو، عملیاتي سیستمونو او نورې برخې د انټرنیټي حملو او هکینګ څخه وساتل شي. کاري چاپېریال کې د امنیت درلودلو سره کمپنۍ تشویقېږي ترڅو خپل فعالیتونه پراخه کړي او په مخابراتي سکټور کې لا ډېره پانګونه وکړي.
- د محکمو جوړول، څو د مخابراتي کمپنیو تر منځ د شته شخړو لپاره حل لارې پیدا کړي. د مخابراتي کمپنیو د استازو د خبرو پر بنسټ اوس مهال د مخابراتي خدمتونو برابروونکي ډېری داسې ستونزې شته چې لا تراوسه د شخړو د حل لپاره بدیل یا ADR د نه شتون له کبله ناحل پاتې دي. د قضايي محکمو اوږد پروسیجرونه او په دغو ارګانونو کې د فساد شتون ته په کتو سره مخابراتي کمپنۍ بې باوره شوي او نه غواړي خپلې اړوندې ستونزې تجارتي محکمو ته د حل لپاره راوړي. دې ستونزې د مخابراتي خدمتونو برابرونکیو ترمنځ سیالۍ په منفي توګه تر اغیزې لاندې راوستې او پیریدونکیو ته یې هم یو شمېر ستونزې ولاړې کړې دي. نو د دې لپاره چې د مخابراتي کمپنیو تر منځ سیالۍ لا پیاوړې شي باید داسې تجارتي محکمې جوړې شي چې د مسلکي کارکوونکیو لخوا پر مخ لاړې شي او د کمپنیو تر منځ شته شخړو او ستونزو ته په چټکۍ سره حل لارې پیدا کړي.

دولت باید هغه کمپنۍ تشویق او ونازوئ چې په مخابراتي سکټور کې زیاته اندازه پانګونه کړې او زیاتو افغانانو ته یې د کار زمینه برابره کړې ده. د دې ترڅنګ هغو کمپنیو ته باید مالیه وبښل شي چې هیواد نوي تخنیکي وسایل را واردوي ترڅو د خدمتونو کیفیت لاهم لوړ شي. سره له دې ټولو ذکر شویو موضوعاتو نه اړینه ده، چې پالیسي جوړوونکي هم د اوسنۍ محصول اخیستنې بهیر اغیزې وڅېړي ترڅو په دې پوه شي، چې دې بهیر څه ښیګڼې درلودې او کومې برخې یې باید پرمختګ وکړي.

## پایله

دا راپور په افغانستان کې د مخابراتي خدمتونو د محصول اخیستنې میکانیزم او د دې بهیر د رونوالي د اروزنې په هکله جوړ شوی دی. د دې راپور معلومات کابل ښار کې د خلکو د ځانګړو ډلو لکه چارواکي، متخصصین، د دولتي او خصوصي کمپنیو استازي او عامو خلکو سره د سروې کانو، ډله ییزو بحثونو او مرکو له لارې راټول شوي دي. دا راپور په افغانستان کې د مخابراتي سکټور بې سارې پرمختګ او په دې سکټور کې سلګونه ملیونه ډالرو پانګونه په ګوته کوي. د مخابراتي کمپنیو یو له مثبته اغیزو څخه دا ده چې د شته خنډونو او ستونزو سره سره وکولای شي، چې ملیونونه افغانان له بهرنۍ نړۍ سره ونښلوي او ډېری سیمې ترخپل پوښښ لاندې راولي. له دې سره سره مخابراتي کمپنیو د هیواد په سوداګریزه پرمختیا کې ونډه اخیستې او ملیونونه افغانانو ته یې د کار زمینه برابره کړې ده.

د دې راپور له مخې په ټوله کې افغانان د مخابراتي خدمتونو د محصول اخیستنې بهیر څخه راضي دي او غواړي چې مالیه باید دولت ته ورکړل شي. خلک په دې باور دي چې د بهرنیو مرستو څخه د خلاصون یوازینۍ لاره دا ده چې د مخابراتو په شمول له ټولو سکټورونو څخه مالیه واخیستل شي. دا په داسې حال کې ده چې ډېر خلک د مالیې ټولونې د میکانیزم او د دې بهیر د رونوالي په اړه هیڅ معلومات نه لري. د مرکو ډېری ګډونوال په دې باور دي، چې د دولت په زیاتو برخو کې د فساد شتون ته په کتو سره ویل کېږي، چې د مخابراتي خدمتونو د محصول پیسې هم په سمه توګه د دولت خزانې ته ونه لیږدول شي. د مرکې ګډونوالو ویل، چې دولت ونه توانید چې د خلکو باور پر اوسني میکانیزم لاسته راوړي، دا هغه څه ده چې ډېری دولتي چارواکو هم منلې ده.

د دې لپاره چې د د مخابراتي خدمتونو محصول اخیستنې پر میکانیزم او رونوالي د خلکو باور زیات شي، دا راپور ځینې وړاندیزونه وړاندې کوي. ځینې دغه وړاندیزونه د دولت د پالیسیو بدلون غوښتنه کوي خو ځینې نور یې د مخابراتي کمپنیو د خدمتونو د ښه والي غوښتنه هم کوي. د دغو وړاندیزونه او سپارښتنو په پلي کیدو سره ښآیي د مخابراتي سکټور خدمتونه لا ښه او کټور شي. همدارازبهرني پانګه اچوونکي به دې ته تشویق شي، چې په مخابراتي سکټور کې پانګونه وکړي. په پایله کې په زرګونه هغه ځوانانو ته چې اوس مهال بیکاره دي د کار زمینه برابره شي.